شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

تعهد قزاقستان در راستای گسترش روابط دو جانبه با امارت اسلامی افغانستان

مفتی محمدالرحمن سرپرست سفارت امارت اسلامی مقیم قزاقستان با یرکین توکوموف، نماینده خاص این کشور در امور افغانستان دیدار کرده است.

سفارت افغانستان در آستانه با نشر خبرنامه‌ای از دیدار آقای محمدالرحمن با آقای توکوموف، خبر داده است.

بربنیاد خبرنامه، در این دیدار سرپرست سفارت افغانستان مقیم آستانه با اشاره به رسمیت شناختن امارت اسلامی از سوی روسیه و استقبال از آن، ابراز امیدواری کرده که دولت قزاقستان نیز چنین گامی را بردارد.

در خبرنامه آمده که آقای محمدالرحمن در این دیدار در مورد سیاست خارجی امارت اسلامی فرصت‌های سرمایه‌گذاری در افغانستان، وضعیت پناهجویان، سیلاب اخیر در کشور و فرصت‌های شغلی معلومات همه‌جانبه ارایه کرده است. به گفته سفارت افغانستان مقیم قزاقستان، یرکین توکوموف نیز بر تعهد کشورش در راستای گسترش روابط دوجانبه با امارت اسلامی تاکید کرده است.

او اطمینان داده که آستانه در بخش‌های سیاسی، اقتصادی و فرهنگی با کابل همکاری خواهد کرد.

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۷۹۹ ګڼه / پنجشنبه د محرم‌الحرام ۱٤ مه ۱٤٤۷ هـ.ق / د چنګاښ ۱۹ ۱٤۰٤ هـ.ش / د جولای ۱۰ مه ۲۰۲۵ میلادي

د عدالت شعار خو دوه ګوني عمل؛ د نړيوالې محکمې پر دريځ نيوکې

شریعت: هاګ یا نړیوالې جنایي محکمې تازه یو فرمان صادر کړی، چې غواړي د اسلامي امارت ځینې مشران ونیسي، خو دغه پرېکړه د اسلامي امارت لخوا سیاسي او د اسلامي اصولو خلاف بلل شوې ده. منتقدین وايي، محکمې د نړیوالو زورواکو جنایتونه هېر کړي او یوازې پر کمزورو تمرکز کوي، چې دا د عدالت غوښتنه نه، بلکې سیاسي لوبه ده.

يادې محکمې د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه شیخ القران و الحدیث مولوي هبة اللـه اخندزاده «حفظ الله تعالی» او د افغانستان سترې محکمې رئیس قاضي القضات عبدالحکیم حقاني د نیولو غوښتنه کړې، چې لامل یې د دوی له لوري د ښځو حقونو نقض ښودل شوی دی.

د اسلامي امارت مرکزي... ٦ مخ

وردګو کې د ناسمو دودونو د مخنيوي فرمان ته ولسي هرکلی

وردګو ولایت کې د اسلامي امارت زعیم امیرالمؤمنین «حفظه‌الله» د ۱۷مې شمېرې فرمان د هرکلي په موخه غونډه روانه ده، چې موخه یې د ناسمو دودونو مخنیوی او د سالمو ټولنیزو ارزښتونو پیاوړتیا ده.

د امید راډیو خبریال په دې غونډه غوښتنې ځواب دی. «زموږ خلک له کلونو راپدې خوا له ناسمو دودونو ځورېدل او دا فرمان د دغو ټولنیزو ستونزو عملي حل وړاندې کوي. »

د غونډې ګډونوال هم دغه فرمان د ټولنې د اصلاح لپاره یو مهم ګام

کې د وردګو د والي قاري بختیار معاذ په حواله وايي، د دغه فرمان هرکلی د ولس د یو اوږدمهاله بللی او تېنګار یې کړی، چې د ناسمو دودونو مخنیوی به د خلکو د ژوند د لا ښه والي لامل شي.

په اسلام کلا بندر کې د راستنېدونکو کډوالو وضعيت له نږدې وڅارل شو

د ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت سرپرست مولوي حمیدالله آخوندزاده د هرات ولایت د اسلام‌کلا بندر ته په سفر کې له ایران څخه د راستنېدونکو افغان کډوالو وضعیت له نږدې کتلی او د خدمتونو بهیر یې ارزولی دی.

ځایي مسئولینو د ښاغلي اخوندزاده د سفر موخه د ترانسپورټ کمېټې د فعالیتونو څار، د همغږۍ د کچې ارزونې او له کډوالو سره د مرستو ځرنګوالی ښودلی دی.

د ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت سرپرست د همکارو ادارو، خیریه بنسټونو او عامو خلکو له همکارۍ مننه کړې او زیاته کړې یې ده، ٦ مخ

راستنو شويو هېوادوالو ته کاري زمينې برابرول

د کار او ټولنیزو چارو وزارت ویلي، چې راستنو شویو افغان کډوالو لپاره د کاري فرصتونو د رامنځته کېدو کمېټې نوبتي غونډه د یو شمېر وزارتونو د استازو په ګډون ترسره شوه. د یاد وزارت د معلوماتو له مخې، په دې غونډه کې د کاري زمینې برابرولو په موخه د نږدې ۲ زره راستنو شویو افغان کډوالو مشخصات له دولتي ادارو سره شریک شوي دي. د کار او ټولنیزو چارو وزارت د یادې لړۍ په دوام ټینګار کړی او له ټولو دولتي ادارو یې غوښتي چې له راستنو شویو کډوالو سره د کاري زمینو په برابرولو کې لازمه همکاري وکړي. دا په داسې مهال ده، چې په تېرو څو ورځو کې له ایرانه په زره ګډون افغان کډوالو بېرته خپل هېواد ته راستانه شوي او د اسلامي امارت د مسئولینو له لوري د لومړنیو مرستو وروسته خپلو اصلي مېنو ته هم لېږدول شوي دي.

توزيع کارت‌های مصئونيت به ۱۷ مقام بلندپایه اداره پيشين

کمیسیون تماس با شخصیت‌های افغان اعلام کرده که برای هفده تن از مقام‌های بلندپایه اداره پیشین کارت‌های مصئونیتی توزیع کرده است. به گفته کمیسیون تماس با شخصیت‌های افغان، کارت‌های یادشده به مقام‌های بلندپایه اداره پیشین طی مراسمی با حضور شیخ شهاب‌الدین دلاور، رییس این کمیسیون توزیع شده است. دلاور در این مراسم افغانستان را خانه مشترک تمامی افغان‌ها بیان کرده است. او از همه شخصیت‌های افغان مقیم کشورهای خارجی به‌شمول مقام‌های اداره پیشین خواسته تا به افغانستان برگردند. رییس کمیسیون تماس با شخصیت‌های افغان تاکید کرده که فرمان عفو رهبر امارت اسلامی افغانستان به هدف زندگی با عزت و آبرومندانه همه در داخل کشور صادر شده است.گفتنی است که پس از حاکمیت دوباره امارت اسلامی افغانستان، دها شخصیت افغان به‌شمول مقام‌های اداره پیشین از طریق کمیسیون تماس با شخصیت‌های سیاسی به کشور برگشته‌اند.

سرپرست وزارت صحت عامه خواهان برگشت کادرهای طبی شد

مولوی نور جلالی، سرپرست وزارت صحت عامه از کادرهای طبی افغانستان مقیم کشورهای خارجی خواست تا به کشور برگردند و در عرضه خدمات صحی، سهیم شوند.

سرپرست وزارت صحت عامه به کادرهای طبی افغان که به دلایل مختلف کشور را ترک کرده‌اند اطمینان داده که این وزارت متعهد است تا از ظرفیت‌های آنان در نهادهای درمانی خصوصی و دولتی افغانستان استفاده کند. آقای جلالی با بیان این که شفاخانه‌های کشور هنوز به معیاری‌شدن نیاز دارند، تاکید کرده که کادرهای طبی می‌توانند در پُر کردن این خلاء تاثیرگذار باشند. او به نقل از سازمان‌های بین‌المللی می‌گوید، سکتور صحت در افغانستان به ۵۰ هزار بستر نیاز دارد و وزارت صحت عامه در تلاش تامین این ... ص٦

سرمقاله

د ملګرو ملتونو مغرضانه او دوه ګوني چلند!

ملګري ملتونه، چې تر ډېره د زبرځواکونو تر اغېز لاندې فعالیت کوي او تل یې د اسلامي هېوادونو پر خلاف مغرضانه او دوه ګوني چلند کړی، له بده مرغه؛ بیا یې هم د افغانستان په اړه خپل دوه ګونی، ناعادلانه او له واقعیتونو لرې چلند تکرار کړ. دا ځل یې د اسلامي امارت پر رهبرۍ ناعادلانه تورونه ولګول او د هغوی خلاف یې پرېکړه وکړه، په داسې حال کې، چې د افغانستان اسلامي امارت له لومړۍ ورځې راهیسې د امنیت، ثبات او مثبت تعامل پالیسۍ ته ژمن پاتې شوی دی.

پرېکړه په داسې حال کې کېږي، چې د اسلامي امارت له خوا په افغانستان کې د خپلواک، امن او متحد نظام بنسټ ایښودل شوی، د ملګرو ملتونو وروستۍ پرېکړه لیک نه یوازې د افغان ولس د هیلو او واقعیتونو خلاف دی؛ بلکې د یو ځورېدلي ملت پر زخمونو د مالګې شیندل بلل کېدای شي. دا پرېکړه د هغو درواغجنو معلوماتو، مغرضانه راپورونو او سیاسي فشارونو پر بنسټ شوې، چې هېڅ حقوقي یا عادلانه بنسټ نه لري.

د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت په خپل مستند غبرګون کې څرګنده کړې، چې دا ډول ناعادلانه پرېکړې د افغانانو او نړیوالې ټولنې ترمنځ د رغوونکي تعامل پر ځای خنډ ګرځي. د اسلامي امارت ویاند، مولوي ذبیح‌الله مجاهد، هم د دغې پرېکړې په هکله پیاوړی او قاطع دریځ ونیو او اعلان یې وکړ، چې اسلامي امارت د نړیوالې محکمې په نوم کوم داسې بنسټ نه پېژني، چې یوازې د سیاسي موخو لپاره کارول کېږي. هغه وویل: «موږ د نړیوالې محکمې په نوم کوم بنسټ نه پېژنو، ځکه چې که دا بنسټ واقعاً د انصاف لپاره وای، نو د غزې د مظلومو ښځو او ماشومانو د نسل‌وژنې پر وړاندې به یې خاموشي نه غوره کوله.»

د ملګرو ملتونو اسمبلي په داسې حال کې د امیرالمؤمنین او قاضي القضات په هکله مغرضانه پرېکړه کوي، چې د اسلامي امارت مشرتابه تل د متقابل درناوي، اسلامي ارزښتونو او ملي ګټو په چوکاټ کې له نړیوالو سره د مثبت تعامل لاره خپله کړې. دا ډول پرېکړې او چلندونه له بین المللي ... ٦ مخ

د اسلامي امارت له رسمیت پېژندنې د روسیې اصلي هدف څهٔ دی؟ ۲مخ

په هېواد کې د اوبو کمښت بحران یوازینی حل لاره!!! ۳مخ

د ځوانانو د انحراف لاملونه او د اصلاح اړتیا ٤مخ

د شپږيزې ليګ لوبلړۍ او لوبغاړي په ډاګه شول

شریعت: د شپږیزې لیګ کرېکټ لوبلړۍ چې د جولای په ۱۹مه پیلېږي، د اګست تر لومړۍ نېټې به دوام ومومي؛ چې ۵ لوبډلې به په کې شتون ولري او هره لوبډله ۱۸ لوبغاړي لري، یو له بل ځل سره ۲ ځلې مخامخ کېږي، هره لوبډله به ۸ لوبې کوي. دغه لوبلړۍ کې به هر ملي لوبېدونکي لوبغاړي ته د لوبې په سر ۳۵ زره افغانۍ او کورني کرېکټ لوبېدونکي لوبغاړي ته تر ۲۰ زره افغانۍ فیس ورکول کېږي. د کرېکټ بورډ مسئولین وايي چې دغه لوبلړۍ کې به د سپین‌غر پړانګان، بست ساتونکي، مس‌عینک اتلان، بندامیر ښاماران او امو نهنګانو لوبډلې شتون ولري او هرې لوبډلې ته متوازن لوبغاړي وېشل شوي دي. سپین‌غر پړانګان لوبډله د راشدخان په لوبډلمشرۍ کې حضرت الله ځاځی، زبید اکبري، رحمت شاه، رحمن الله ځدراڼ، بهیرشاه، شمس کروخېل، اعجاز احمدزی، اکرام علي خېل، یوسف شاه، ظاهر پکتین، عصمت عالم، نصیر خان معروف خېل، لطف الله محمدي، فریدملک، محمدابراهیم، فریدون داودزی او دولت ځدراڼ لري. مس عینک اتلان د رحمن الله ګربز په لوبډلمشرۍ کې ریاض حسن، وفي الله تره خېل، خالد تنیوال، ناصرجمال، ایمل شاهین، سهیل خان زرمتي، افسرځاځی، محمد نبي عیسی‌خېل، فرمان الله صافي، مجیب الرحمن، ضیاالرحمن اکبر، خلیل ګربز، نوید ځدراڼ، سیدشېرزاد، بلال‌سمیع، ضیاشریفي او محب الله همراز لري. ٦ مخ

اسلامي سیاست او رهبریت

مولوي عبدالله طیب / پنځمه برخه

د مسلمان پاچا او امام شتون، ضرورت او له سیاسي پلوه یې پر مسلمانانو کې رول:

یوه ټولنه دې ته ضرورت لري، چې د الله جل جلاله د دین احکام او آوامر د شریعت مطابق په کې تطبیق او جاري شي، ټولنه دې ته ضرورت لري چې د دین چارې په کې جاري شي، ټولنه دې ته ضرورت لري چې د دنیا چارې او کاروبار ښه په منظمه او شفاف ډول سره ترسره شي، باید یو داسې نظم او دسپلین وي، چې ټولنه او وګړي یې په یو چوکاټ او تر یو قانون لاندې چارې ترسره کړي او د مسلمانانو چارې په عادلانه ډول ترسره شي، نو د دې لپاره خامخا یوه عادل، نېک، ځیرک، هوښیار او مسلمان پاچا ته ضرورت شته، باید یو مسلمان امام او امیر وي، چې د مسلمه امت دیني او دنیوي چارې په ښه شان ترسره کړای شي، که په یوې ټولنه کې عادل امام او پاچا وي، نو د دغه ټولنې چاري به په عدل او انصاف سره ترسره کېږي او خلک به یو ښه نظم او نظام ولري.

مسلمان، عادل امیر او پاچا د اسلامي سیاست له پلوه یو شخص نه دی، بلکې دا یو فکر او یو نظر دی، مسلمانان پرې راټول دي او د ده تر امر لاندې خپلې چارې ترسره کوي، دا دښمن او مقابل لوري ته دا پیغام ورکوي، چې زموږ فکر او دین یو دی او موږ هېڅکله چاته په خپلو چارو کې د مداخلې اجازه نه ورکوو.

باید مسلمانان خپلې چارې د یوه آمر او امام تر نظر لاندې ترسره کړي او خپل قیادت او مشري یوه مسلمان پاچا او امام ته ورکړل شي، تر څو په ټولنه کې ټول وګړي د یوه پاچا او امام تر امر، فرمان او قانون لاندې ژوند وکړي.

که چېرې یوه ملک کې امام، قضاة، والیان او پاچا نه وای، نو ښځې به بې نکاح پاتې شوې وای، یتیمان به بې سرپرسته پاتې شوي وای.

که چېرې پاچاهان نه وای، نو خلک به ګډوډ شوي وای او یو د بل غوښې به یې خوړلې وای، یعنې یو دبل وینې به یې توی کړې وای، په حدیث کې راځي: پاچا په ځمکه کې د الله جل جلاله سیوری دی، هر مظلوم ورته پناه وړي.

حضرت عثمان رضی الله عنه وایي: الله جل جلاله منع کوي په پاچا باندې ډېر تر هغه چې په قرآن باندې وي، یعنې الله جل جلاله خلک په پاچا باندې ډېر ساتي، ځکه خلک د ځانونو د ساتنې لپاره پاچا ته ډېره رجوع کوي او پاچا ته راځي، نو په دې خاطر د پاچا شتون ډېر اړین او مهم دی او الله جل جلاله مسلمان پاچا ته ډېر فضیلت ورکړی او وجود یې ډېر ضروري او لازمي دی.

حضرت عمرو ابن العاص رضی الله عنه ویلي: عادل پاچا تر باران ګېډلو غوره دی، اوښ او زمری تر خاین پاچا غوره دي او خاین پاچا تر داسې فتنې غوره دی، چې دوامداره وي، یعنې داچې خلک عادل پاچا ولري تر دې غوره دی، چې پر خلکو باران وشي او تر خاین پاچا چې د خپل ملت لپاره خیرخواه نه وي تر دې آس او زمری هم غوره دي، دا د عادل پاچا ارزښت او اهمیت راته ښيي.

کعب الاحبار ویلي: مثال د اسلام او پاچا داسې دی، لکه مثال د خیمې او ستنې (پایې)، اسلام د خیمې په شان دی، پاچاهان یې ستني (پایې) دي او میخونه یې خلک دي او بعضې نه اصلاح کېږي مګر په بعضو نورو باندې. «تهذیب الریاسة و ترتیب السیاسة»

یعنې اسلام او مسلمانان د خیمې په شان دي، اسلام د خیمې مثال لري، پاچاهان او امیران یې ستنې او پایې دي، چې د دوی په واسطه دربرېږي او خلک یې میخونه دیؤ چې محکمه کوي یې، نو باید پاچاهان، امیران او مشران د اسلام او شریعت د احکامو د ساتلو او تطبیق کولو لپاره هر ډول قربانۍ ته چمتو شي او ډېر کوښښ وکړي، چې د الله جل جلاله دین ټینګ او محکم ونیسي، اسلام دې قائم کړي او ولس دې بیا د دوی تر شا ودرېږي او د دوی هر ډول ملاتړ او همکاري دې وکړي، خدمت دې ورته وکړي او د الله جل جلاله د دین او اسلام د احکامو په جاري کولو کې دې ورسره پوره همکاري وکړي او د نظام د ساتلو لپاره دې په هر حالت کې له دوی څخه دفاع وکړي.

مسلمان عادل پاچا او امیر الله جل جلاله ته ډېر ارزښت لري او الله جل جلاله ورته خاص او ځانګړي مقامونه او فضیلتونه ورکړي، عادل پاچا او امیر ته الله جل جلاله د قیامت په ورځ د خپل عرش تر سیوري لاندې سیوری ورکوي، نو چې الله جل جلاله داسې فضیلت ورکړی، نو شتون یې زموږ مسلمانانو او زموږ مسلماني ټولنې لپاره ډېر ضروري او مهم دی، ځکه نو باید موږ یې په ارزښت او قدر پوه شو، د حفاظت او ساتلو لپاره یې کلک ملاتړ وکړو او پوره همکاري ورسره ولرو، که چېرې د مسلمان پاچا او امیر شتون نه وي، نو هرومرو به ټولنه فاسده کېږي او خلک به فساد ته مخه کوي.

ابن المعتز ویلي: فساد د رعیة په نشتون کې د پاچا لکه فساد د جسم دی، په نشتون کې د روح، نو لکه څرنګه چې جسم او بدن بغیر له روح څخه فاسد وي، نو همدغه شان یوه ټولنه او یو نظام چې مسلمان امیر او پاچا ونه لري هغه به خامخا فاسد وي، ځکه د مسلمان پاچا په وجود او شتون کې شرعي احکام پلي کېږي او شریعت عملي کېږي، خو د دې په مقابل کې که مسلمان پاچا نه وي نو هلته به د الله جل جلاله د دین احکام او قوانین نه عملي او نه به پلي کېږي نو خود به هغه ټولنه فاسده وي.

پایله دا شوه چې مسلمان پاچا او امیر دواړه د مسلمانانو لپاره یو شخص نه، بلکې فکر او یو نظر دی، مسلمانان پرې راټول دي او د یوه امیر او پاچا تر امر لاندې خپلې چارې تر سره کوي.

د اسلامي امارت له رسمیت پېژندنې د روسیې اصلي هدف څهٔ دی؟

امین وردګ / لومړۍ برخه

دا چې ولې روسیې د نورو ابرقدرتونو، سترو اتومي طاقتونو او د امنیت شورا د دایمي غړو په شتون کې دومره لوی جرئت وکړ او همغه اسلامي امارت یې پهٔ رسمیت و پېژاند، چې څو کاله وړاندې یې په نړیوال تور لېست کې شامل کړی ؤ؟ نو دا یو تصادف یا یوه ناګهاني حادثه نهٔ وه، چې پر احساساتي یا غیر شعوري توګه رامنځته شوی وي او نهٔ هم کومه ساده پرېکړه وه، چې روسیې دې پهٔ خپل سر کړې وي؛ یانې دغې پېښې ته باید پهٔ سطحي توګه و نهٔ کتل شي! بلکې ټول ابعاد یې پهٔ دقت سره څېړل غواړي، مستقیمې ګټې او غیر مستقیم زیانونه یې باید پهٔ پام کې ونیسو.

د روسیې جیوپولیټیک موقعیت؟

دا چې روسیه پهٔ جغرافیوي لحاظ د نړۍ له ټولو ستر هېواد بلل کېږي او د ځمکې لسمه برخه تشکیلوي، هم پهٔ اروپا کې راځي او هم پهٔ آسیا کې؛ ځکه خو یې پهٔ ځینو سیمو کې ورځ او پهٔ ځینو نورو کې شپه وي.

روسیه چې پخوا د شرقي بلاک سرکښه او سرلارې یادېدله! له ټولو ستر نظامي ځواک ؤ، چې د شوروي اتحاد پهٔ نوم یې پهٔ نیمه کره د ځمکې راج چلولو او پوځ یې پهٔ نهٔ ماتېدونکي پوځ سره شهرت درلود.

روسیه د سترو طبعي منابعو (مایع ګازو، نفتو، سکرو او..) ګنې زېرمې لري، چې پهٔ دې برخه کې یې ټوله اروپا متأثره کړې ده.

روسیه پهٔ نړۍ کې دویم ستر نظامي طاقت یادېږي چې هم پهٔ بشري لحاظ کافي وړتیا او پیاوړتیا لري او هم پهٔ تکنالوژیکي برخه کې.

روسیه پهٔ بهر او دننه کې پهٔ سلګونو لوېې او وړې نظامي اډې لري، چې آن تر منځني ختیځ او منځنۍ آسیا پورې غځېدلې دي.

د روسیې پخوانی او اوسنی دښمنی

روسیه پهٔ تېرو دواړو نړیوالو جګړو کې مستقیماً ښکېله وه او پرته له دغو جګړو څخه یې نورې هم ګڼې جګړې کړې او بې شمېره بدۍ یې له پلرونو او نیکونو ورته پهٔ میراث پرېښي.

د شوروي اتحاد تر نوم لاندې یې پلرونو کوټې داسې ناکارۍ او بدکارۍ کړې، چې اوس یې اولادونو ته د هېچا زړهٔ هم نهٔ ورسپینېږي.

د شلمې زېږدیزې پېړۍ پهٔ اواخرو کې امریکایانو پهٔ افغانستان کې شورویانو ته داسې تلک کېښود، چې چا یې فکر لا نهٔ ؤ کړی (د حکومت پهٔ اډانه کې دننه یې ځینې افغان کمونیستان [چې ظاهراً شوروي پلوي وو] وهڅول ترڅو شوروي پوځونه افغانستان ته راولي! ببرک کارمل په دې هکله پرېکنده ګامونه واخیستل او رسماً یې هغوی ته بلنه ورکړه، اما دا کار اصلاً د امریکا ؤ) نتیجه یې د افغانانو پهٔ لاس د شوروي اتحاد له منځه وړل شول.

تازه جګړه یې د اوکراین سره جګړه ده، چې [امریکا + ناټو] ښه خوړه برخه په کې لري.

د روسیې ستراتیژیک اهداف

روسیې ډېر له پخوا څخه هدف درلود، چې د فارس له خلیج سره نېغ تجارتي او ترانزیتي تړاو ولري او له هغهٔ ځایه کلک نظارت وکړي، چې آن نظامي اډې یې هم پهٔ نظر کې ورته نیولې وې (چې پر افغانستان له برید څخه یې هدف هم همدا ؤ) ترڅو د زور له لارې ګرمو اوبو ته ځانونه ورسوي، خو افغانان ورته بلا شول او د ملا تیر یې بوټ ورمات کړ.

دا چې روسیه پهٔ نړۍ کې دویم نظامي قوت یادېږي، نو ډار یې هم له همدې امله دی! یانې یو بل انساني قوت (امریکا) یې پر سر شته، چې خوب یې ور نا آرامه کړی، ځکه خو تل دا کوښښ کوي، چې ځان سر ته وباسي او د امریکا له دښمنانو سره اړیکې جوړې کړي.

دا چې پخوانی شوروي اتحاد ډېر پیاوړی ځواک ؤ، خو د افغانانو پهٔ مټو و ځپل شو، نو دوی یو ځل بیا کوښښ کوي، چې د نړۍ پهٔ سطحه له ټولو مخکې شي؛ بلې! روسیه دا ځل کوښښ کوي، چې خپل نفوذ د زور له لارې نه بلکې د نرمښت او دوستۍ له لارې زیات کړي.

دا چې روسیه د کریمیا جزیرې د اشغال له امله هلته له ناټو سره هم پهٔ غم اوښتې، نو باید پهٔ سیمه کې خپل اعتبار لوړ او خپل خواخوږي ډېر کړي، چې دا یوه جدي اړتیا ګڼل کېږي.

خلاصه دا چې روسیه ګڼ ستراتیژک اهداف لري! چې پهٔ هغو کې د خپلو سرحدونو ساتنه، د نظامي اډو پراختیا، نفوذي وسعت، پهٔ نړیوال بازار کې د مشتریانو زیاتوالی، د پخواني شوروي متحده جماهیر پهٔ خپل واک او نفوذ کې راوستل، ساتل او حمایه کول، د ناټو له نفوذ او تعدد الدول څخه مخنیوی، کلتوري او فرهنګي تأثیرات، پهٔ نړیواله سطحه له ټولو پیاوړی پوځي ځواک رامنځته کول او داسې نور... یې ستر اهداف دي، خو له ټولو مهم په کې د ناټو مخنیوی او ملا ماتول یادولی شو.

روسیه له افغانانو څهٔ غواړي؟

روسیه پوهېږي، چې افغانان پهٔ ټوله نړۍ کې یوازیني خلک دي چې استعمار نه شي زغملی او نهٔ یې استثمار خوښ دی، په دې هم پوه شوي، چې اصیل افغانان نهٔ زور مني او نهٔ هم زر؛ ځکه خو یې نهٔ د پخواني شوروي زور ته سرونه ټیټ کړل او نهٔ هم د ناټو زرو ته، نو دوی حیران شول، چې څرنګه دا سرشار قبائل قانع کړي، چې دوی نور دوستانه تعامل ورسره غواړي او له بدۍ څخه یې پهٔ توبو توبه ده؟ کهٔ ستاسو یاد وي! کله چې پهٔ ۲۰۰۱ میلادي کال کې غربیانو پر افغانستان یرغل وکړ او دا خاوره یې شاوخوا یوه نیمه لسیزه د افغانانو پهٔ وینو خیشته کړه، روسانو یوهٔ ورځ هم افغان مبارزینو ته د دوستۍ لاس اوږد نهٔ کړ او نهٔ یې پهٔ هېڅ برخه کې مرسته ورسره وکړه، خو کله چې ناټو پهٔ ماتېدو شوه، نو روسان وپوهېدل، چې پهٔ افغانستان کې اسلامي امارت خامخا واک ته رسېږي، ځکه خو یې ورو ورو له دغهٔ مبارز ځواک سره اړیکې جوړې کړې، چې دا دی له ټولو وړاندې یې د دوی حاکم نظام هم پهٔ رسمیت وپېژاند.

روسیې ولې له ټولو وړاندې د اسلامي امارت حکومت پهٔ رسمیت و پېژاند؟

روسیه پهٔ افغانستان کې (د شوروي اتحاد تر نوم لاندې) له ماتې وروسته دغې نقطې ته کاملاً متوجه وه چې افغانان څرنګه رام او آرام کړي؟ هغه پوه ده، چې زور او زر دواړه ناکام شول، نو بل داسې څهٔ دي، چې کار ترې واخیستل شي؟ تاسو تېر شل کلن دور ته وګورئ، چې افغانانو د ناټو وحشي ځواکونو له خوا څهٔ څهٔ و نهٔ لیدل! خو روسانو یوه ورځ هم پر هغوی د جدي اعتراض جرئت و نهٔ کړ او نهٔ یې افغان مبارزینو ته پهٔ نظامي برخه کې د لږې مرستې لاس هم را اوږد کړ، خو کله چې ناټو دلته ماتې شوه، سملاسي هرڅهٔ بل ډول شول اما بیا یې هم غوږ نیولی ؤ، چې ګواکې اسلامي امارت څهٔ کوي؟ آیا افغانان پرې را ټولېږي کهٔ نه؟ د دوی مخالفین بهٔ وتوانېږي چې حکومت یې بېرته چپه یا لږ ترلږه چلنج کړي؟ خو کله چې پوه شول پهٔ افغانستان کې یوازنی نظام، چې د افغانانو خوښ نظام دی هغه همدغه اسلامي امارت دی، نو یې عملي ګامونه واخیستل؛ دا چې د دوی خوښېږي کهٔ نه خو افغانان یې خوښوي! ځکه چې هغو نورو خو هېڅ نتیجهٔ ور نهٔ کړه، بلکې هسې پر سوشل میډیا له ترکیې او فرانسې څخه بابولالې بولي، چې ځینې لوچکان یې کله د تاجیکستان پهٔ غرونو کې سارنګې غړوي او کله هم د ایران او پاکستان! نو دوی خپلو ګټو ته پهٔ کتو غواړي له همداسې یوهٔ نظام سره ښهٔ تعامل ولري، چې د افغانستان پر صعب العبوره جغرافیه (پرته له هېڅ تهدید څخه) واحد حکومت جوړ کړی شي.

دا چې وړاندې د روسیې ځینو ستراتیژیکو اهدافو ته اشاره شوې او ځینې یې جوت بیان شوي هم دي! نو پر همغهٔ اساس روسیه مجبوره ده، چې پهٔ افغانستان کې د یوهٔ واحد او پیاوړي مرکزي حکومت ملاتړ وکړي، ځکه خو یې اسلامي امارت پهٔ رسمیت و پېژاند؛ یانې دا د روسیې لپاره یوه جدي اړتیا وه نه ژوره دوستي او خواخوږي.

ګورئ! مهمې او اساسي نکتې درې وې، چې روسیه یې د اسلامي امارات پهٔ رسمیت پېژندلو کې هڅانده او عجوله کړه (پهٔ آسیا کې د ناټو پر وړاندې نظامي او سیاسي پیاوړتیا- پهٔ سیمه کې نفوذ، تجارت او ترانزیټ او دا چې روسیه تخمیناً د افغانستان ګاونډ یادېږي، ځکه خو یې ډېر کارونه ورسره بند دي، نو لاس پر کار شوه)

روسیه د افغانستان پهٔ جیوپولټیک موقعیت ښه پوه ده

دا چې د افغانستان جیوپولیټیک موقعیت د ټولو ابر قدرتونو لپاره ډېر لوړ اهمیت لري، چې هم یې د تاریخ پهٔ اوږدو کې نړیوال قدرتونه پهٔ مستقیمه او کله غیر مستقیمه توګه ځپلي او هم یې د دوی ترمنځ د ثالث باالخیر رول لوبولی، نو روسیې درک کړې، چې له دې هاخوا باید له افغانانو سره د دوستانه سیاست او مخلصانه تعامل لاره غوره شي.

بلې! هغوی پوهېږي چې د افغانستان جغرافیوي موقعیت هم پهٔ سیاسي لحاظ ډېر اهیمت لري او هم پهٔ اقتصادي؛ ځکه خو یې نه زغملی شي او نهٔ یې پرېښودلی شي.

آیا روسیې د رسمیت پېژندنې اقدام پهٔ خپل سر کړی؟

روسیه چې د امنیت شورا دائمي عضویت لري او پهٔ نړیواله سطحه ستر اتومي طاقت یادېږي، نو هېڅکله هم احساساتي پرېکړه نه شي کولی، هغه هم پهٔ داسې یوهٔ حساس مورد کې چې لا هم اسلامي امارت د بین المللي ټولنې له تور لېسته نهٔ دی وتلی! بلکې ارو مرو بهٔ پهٔ دې اړه له خپلو مستقیمو او غیر مستقیمو متحدینو سره سلا او مشورې کوي، نو زما یو اټکل دا دی، چې دا کار د امنیت شورا پهٔ خوښه ترسره شوی، ترڅو احصائیه وکړي چې څهٔ پېښېږي؟ دویم اټکل دا دی چې ممکن د امنیت شورا پنځو دائمي غړو په دې هکله ډېرې چنې سره وهلې وي؛ چې آیا اسلامي امارت ته رسمیت ورکړل شي کهٔ نه؟ پهٔ پای کې به روس او چین یوه خوا، امریکا، برېټانیا او فرانسه بهٔ بله خوا شوي وي، ممکن مخالفت هېچا هم نهٔ وي کړی، ځکه چې هلته د ویټو قانون پروت دی! (ګواکې چې هر یو دائمي غړی کومه پرېکړه رد کړي، نور غړي [کهٔ څهٔ هم ۱۴هېوادونه یوه خوا او دا یو یې بله خوا شي!] بیا هم هغه کار نشي کولی) نو کهٔ د امنیت شورا پرېکړه لیک صادر کړي، چې اسلامي امارت بهٔ هېڅ دولت هم پهٔ رسمیت نهٔ پېژني، بیا یوازې روسیه دا کار نه شي کولی؛ ځکه چې ممکن کوم دائمي غړی، چې د ویټو حق لري دا پرېکړه لیک ویټو کړي.

مطلب د روس دا کار د امنیت شورا پهٔ خوښه ترسره شوی، نهٔ پهٔ خپلسرې توګه!

روسیه بهٔ له دې وروسته له اسلامي امارت سره څهٔ ډول اړیکې ولري؟

په دې کې شک نشته چې روسیه د اسلامي امارت رسمیت پېژندنې ته سخته لېواله وه، خو وېرېدله چې ممکن ناټو یې پر وړاندې خنډونه جوړ کړي، اما کله یې چې د اسلامي امارت روښانه سیاست، اقتصاد محوره پالیسۍ، پهٔ داخل کې سوله ییز خو پهٔ بهر کې پرېکنده سیاسي دریځ او داسې نور... ولیدل نو متأثره شوه او عملي ګام یې واخیست؛ یقین لرم، چې اړیکې بهٔ یې نرمې او خوږې وي! دوی بهٔ ډېر کوښښ وکړي، چې هرڅهٔ دوستانه وښیي، کهٔ څهٔ هم چې خپلې ګټې یې تر بل هرشي زیات ارزښت ورته لري! اما دوی دا وار نهٔ زور کاروي او نهٔ هم زر، ځکه خو بهٔ دا ځل پهٔ بدیلو لارو چارو غور کوي، ترڅو هم خپلو اهدافو ته ځانونه نږدې کړي او هم د افغانانو زړونه خوشاله وساتي، چې زیات تمرکز بهٔ یې پهٔ انکشافي عمرانیو، اقتصادي توانایيو او علمي سیالیو وي.

خو اصلي خبره دا ده، چې روسیه بهٔ د اسلامي امارت له داخلي او بهرنۍ پالیسۍ سره ځان عیاروي او کوښښ بهٔ کوي، چې د یاد نظام مسیر او ستراتیژیکو اهدافو ته پهٔ کتو! د افغانستان لپاره خپله ستراتیژي عیاره او ډیپلوماتیک تعاملات جاري وساتي.

د حکومت او رعیت مهمې ذمه وارۍ!

مولوي فاروق غلجی

د اسلام سپېڅلي دين د لارښوونو له مخې د ځمکې پر مخ د خليفه ټاکنه او د يوه عادل نظام قايمول د مسلمانانو خورا مهم مکلفيت دی، ځکه ښکاره ده، چې له دې پرته نه د ځمکې پر مخ الهي احکام جاري کېدای شي او نه انساني ټولنه سوکالي او نېکمرغي تر لاسه کولی شي. همدا وجه ده، چې په دې لړ کې يې د حکومت او رعيت مهم وظايف او مسئوليتونه هم په خورا څرګند ډول تشريح کړي، چې لنډيز يې د حاکم پر غاړه عدالت او د رعيت پر غاړه اطاعت دی.

البته؛ لکه چې د عدالت معنی ډېره خپره وره ده، همداسې په اطاعت کې هم ډېرې خبرې دي. مطلب په هر صورت زماني او مکاني شرايط بايد په نظر کې ونيول شي او دواړه لوري له پوره تعقل څخه کار واخلي. څو اولويات او ثانويات سره وپېژندل شي، د ناپامۍ له امله اصول د فروعو لپاره قرباني نشي، له دوو راپېښو شرونو څخه کوچنی شر ومنل شي او په دې ډول د جزئياتو لپاره نورې سترې فتنې را وينښې نه کړای شي.

دا چې اوسنۍ زمانه کې بيا پر حکومت د رعيت حق څه او چارواکي څه ډول مکلفيتونه لري، يا پر بله وينا حکومت بايد خپل ولس ته کوم کوم خدمات وړاندې کړای شي، له ټولو مهمه موضوع ده، ځکه دا وخت د نړۍ په لرو او بر کې هر ملت له خپلو چارواکو يو لړ خدمتونه حتماً غواړي او دا يو منل شوی عرف ګرځېدلی دی.

د مثال په ډول، خلک دا غواړي چې له بهرنۍ او کورنۍ نا امنۍ په کامله توګه وژغورل شي، عدالتي نظام دومره منظم او ځواکمن وي، چې هر ډول ظالم او زورواکی ايسارولی او د مظلوم حق ترې اخيستلی شي، ګټور تعليمي خدمات ورته چمتو کولی او د درملنې او روزګار غم يې خوړلی شي.

اوس نو راځئ، دلته لږ راتم او فکر وکړو، چې دمګړۍ د افغانانو واکمن نظام په يادو برخو کې څومره کار کړی، څه يې ښه تر سره کړي او نيمګړتيا يې په څه کې ده؟ زموږ په خيال د بهرنيو يرغلګرو او کورنيو مفسدينو په ايسارولو او سمولو کې خو يې بالکل اعلی درجه تر لاسه کړې، عدالتي نظام او روغتيايي خدمات يې هم له خپل وس سره سم ګوزاره کوي، اقتصادي هڅې، کار روزګار او هېواد بسيا کول يې هم ښه روان دي، خو تعليمي ډګر انتهايي ډېر بېخونده راته ښکاري، ځکه د عصري او ديني زده کړو نصابونه مو د وخت ننګونو ته ځواب نه شي ويلی او زموږ د تعليمي ادارو فارغان او فاضلان د ډېرې ټيټې کچې معلومات تر لاسه کوي، ځکه خپل زياتره وخت او زيار يې هغو بحثونو کې مصرف کړی وي، چې زر، دوولس سوه کاله مخکې يې اړتيا وه.

دغه راز؛ د صحي خدماتو برخه کې پر حکومت د خپل رعيت يو مهم پور دا دی، چې د درملنې په هره څانګه کې سربېره پر نارينه ډاکترانو، کافي شمېر ښځينه ډاکترانې هم وروزي. تر دې چې لازمه ده د هېواد ګوټ په ګوټ او کلي په کلي بايد داسې روغتيايي مراکز ولرو، چې نارينه او ښځينه ډاکتران دواړه په کې موجود او د خپل بې وزله ملت د رنځورانو خدمت ته د دولت له خوا په وړيا توګه چمتو ولاړ وي.

مطلب دا چې که د ښځو لپاره نور عصري علوم ضروري نه وي، نو طبي مهارتونه تر لاسه کول، خو بې شکه انتهايي ډېر مهم او د ټول ملت جدي اړتيا ده.

اوس به راشو دې ته، چې ښه نو د حکومت پر وړاندې رعيت څه مکلفيت لري او څه بايد تر سره کړي؟

ځواب دا دی، چې رعيت به د خپل حکومت پوره اطاعت کوي، قانون ته به غاړه ږدي، د حکومت هر ډول مثبتو چارو کې به تر خپله وسه مرسته ورسره کوي او له ټولو ډېره مهمه دا چې د اغيارو خبرو ته به غوږ نه نيسي، په لمسونو به يې ځان نه غولوي او له بهرنيو رسنيو سره به کاملاً پرېکون کوي، ځکه معلومه ده، چې د هغوی د پروپاګند پر اساس افغانستان هديره او جهنم دی، په داسې حال کې چې زموږ په باور بالعکس؛ دوی خپله له انسانيته وتلي ماده پرسته څلور بولي او هېوادونه يې يو مخ د شر، فساد او تباهۍ ځالې دي.

په هر صورت؛ موږ ته په کار ده، چې هم مو نظام او هم عام ولسونه داسې مثالي کردارونه ولري، چې هر دښمن پرې معترف او هر منصف يې ارمانجن شي.

البته؛ دا هسې يو خوب او خيال نه، بلکې د اسلامي امت په تېر تاريخ کې زښته ډېرې واقعې او رښتينې بېلګې لري. سلګونه ځايه ليدل شوي، چې د يو مسلمان عادل چارواکي او منونکي رعيت د مناسب چلند له امله سترو دښمنانو ته د اسلام حقانيت څرګند شوی، په ډاګه يې اقرار کړی او له مخالفته يې لاس اخيستی.

نو ايا بيا هماغسې څه نه شي کېدی؟

بريالی سياسي مزل!

احمد منصور

د ملا او طالب په اړه آندونه تر مذهبي مراکزو محدود بلل وو، فکر کېده، چې ياده طبقه نه د حکومتولۍ په چلښت پوهېږي او نه له نړۍ سره پر تعامل، جالبه دا ده، چې ملا په هماغو مراکزو کې هم په آرام نه دی پرېښودل شوی، ډول ډول دسيسې ورته جوړې شوې، ملا وژل شوی، اسير شوی، آن ورک کړل شوی، دښمن يې د ممبر او درس ځای زور درک کړی و، ځکه خو يې نه پرېښوده. په آسيايي هېوادو، خصوصاً افغانستان کې نسبتاً د ملا او طالب بيداري وه، چې جامعه تر يو حده سوچه مسلمانه پاتې شوه، ټولنيز او کورنی ژوند محفوظ شو، د بې سرحدې آزادۍ مخنيوی وشو، البته منځني ختيځ او ډېرو اسلامي هېوادو د غرب په قدم پل کېښود، افغانستان کې اړتيا هم حس کېده، چې رهبري بايد د ملا وي، ځکه د دغه ملت له رګ رګ واقف، احساسات، آرمانونه او هدفونه ښه درک کولای شي، ورسره د تعامل مسيرونه پېژني او له عاداتو يې آګاه دی.

ياد خوب ته تعبير يو داسې ملا شو، چې که سيمې او کلي ته يې د دې پېړۍ له نړۍ وګورې هم به له ډېرې حيرانۍ ورته ګوته په غاښ شې او هم به ووايې نه نه وړ يې نه دی، خو دا چې ياد ملا څنګه دوه کرته کورني او بهرني احزاب نه تنها ماتوي، بلکې خپله او لارويان يې دوه ځلې نه تنها اطاعتي او مرکزي نظام نافېذوي، بلکې له نړۍ سره په داسې انداز تعامل پالي، چې هم خپلې معنوي او مادي ګټې ساتي او هم د نړۍ ډېر آندونه او نظرونه د ملا او طالب په اړه غلط ثابتوي.

مخالفينو دا نظريه درلوده، چې امارت پرته له معاملې، نرمښت او چشم پوشيو بله لار نه لري، افغانستان په رسمي توګه د دنيا برخه ګرځول، له اهدافو او ځينو ارزښتو څخه ورته تېرېدنه شرط شوې وه، خو ملا دا ټول آندونه، فکرونه او نظريې په خپل عملي شرعي سياست غلط ثابت کړل، ځکه نظام يې خيراتي او د معاملو په پايله کې لاس ته نه و راوړی، بلکې د بې مثله قربانيو په نتيجه کې يې تر لاسه کړ، ځکه ډار يې نه درلود او نه يې د معاملو په طريقو فکر کاوه، په نظام ساتنه کې يې عقيده او باور هغه عنصرونه دي، چې پرته له امارت يې په موجوده نړۍ کې کوم نظام نه لري، ځکه خو يې سياسي ډګر د نظامي ډګر په څېر رهبري کړ.

په پروني دښمن باندې نن په سياسي ډګر کې ځان منل، د ځيرک سياست، کاميابې ډيپلوماسۍ ښکارندويي کوي، د امارت د مخالفينو اخلاقي فقر او نظامي ماتې مې ليدلې وه، خو د روسيې له لوري د امارت رسميت پېژندنه يې په سياست کې کوچنيتوب يا د ماشومانه تحليلو کچه يې هم را وښوده، دا يې لا هم نه ده درک کړې، چې پرون مو ولې له روسيې سره جګړه وکړه؟ که سياست ته د همدوی له عينکو وګورو تعريف يې داسې کوي، سياست کې دايمي دوست او يا دايمي ملګری نه شته، خو که همدا سياست بيا نبوي سياست ته مخامخ کړو، وبه لولو چې د نبي (عليه سلام) خپل سرسخت دښمن سره هم تړون کوي، هم د مدينې منورې څنګ سره شام ته په تللې لار د سوداګريزو اموالو نه تنها د انتقال اجازه ورکوي، بلکې ياده لار ورته کامله با امنه کوي.

د ملا بريالی سياسي مزل او د عمومي مخالفينو د سياسي کم ظرفي يې، چې وګورم خوښ شم، ځينې بيا د خلافت راوستو په تخيلې آس سپاره دي، د ملا شرعي سياست له دې امله ننګوي پر وينا يې چې ملا د نني حاکم نظم ولې برخه ګرځي؟ حال دا چې دوی امارت په کامله معنی پېژني خو مجبور دي ځکه حاکم نظم، چې دومره آزادي ورکړې، په غربي او سيکولرو هېوادو کې د آزاد فعاليت اجازه لري، خامخا ترې ځينې طمعې هم لري، څو په رښتينو اسلامي مراجعو امت شکمن کړي.

په يو وخت امارت هم سياسي مزل کوي، هم د امن بنيادونه ږدي، هم له ورته استخباراتي کړيو سره په نظامي او فکري مبارزه بوخت دی، امارت يو نعمت دی، ځکه خو پوهېدونکو د ځانو لپاره تقليد مرجع ګرځولی دی.

په هېواد کې د اوبو کمښت بحران يوازينی حل لاره!!!

ايوب عمري

په نړيواله کچه د اقتصادي، سياسي، ټولنيز او نظامي ناورينونو تر څنګ يو لوی بحران چې نړۍ ورسره ورځ تر بلې د ښکېلتيا پر حال کې ده، طبيعي او اقليمي تغيرات دي، چې پر چټک ډول بشر له ګواښ سره مخ کوي. ځينې هېوادونه، چې د پر مختللو هېوادونو په نامه يادېږي، د دې توانايي لري، چې دا ډول بحرانونه او ګواښونه په ښه ډول مديريت کړي او له دې بلا څخه ځانونه وژغوري، خو له بده مرغه وروسته پاتې او غريب هېوادونه، چې هلته د بشر لومړنۍ اړتياوې لا هم په بشپړ ډول د پوره کېدو وړ نه دي، د دې ډول بحرانونو او ګواښونو سره مبارزه ورته خورا سخته، ستونزمنه او ناممکنه ښکاري. ټول وروسته پاتې هېوادونه په ځانګړې ډول زموږ هېواد، چې ۸۰ سلنه وګړي يې په کرنه بوخت دي او د عايد يوازينۍ سرچينه يې کښت او مالداري ګڼل کېږي د اقليمي او طبيعي ګواښونو پر وړاندې ډېر حساس دي په ځانګړي ډول د اوبو کمښت او تدريجي بحران پر وړاندې، چې په ټول هېواد کې د انسانانو ژوند او راتلونکی له نامعلوم او بې پايه حالت سره مخ کوي. په اوسط ډول په ځينو ساحاتو کې د يو کال په جريان کې شاوخوا ۱۰ متره اوبه تر ځمکه لاندې کښته تللي، چې د باغدارانو او مالدارانو تر څنګ يې په عام ډول ټول هېوادوال له ژورې انديښنې سره مخ کړي دي او دا پروسه لا هم دوام لري، چې هره ثانيه او دقيقه تر ځمکې لاندې اوبه د کمېدو او لا کښته تللو پر حال کې دي.

اوس اساسي پوښتنه دا ده، چې د دې ډول تدريجي او راتلونکي بحرانه په څه ډول هېواد او هېوادوال وژغورل شي؟

په ټوله کې د دې پوښتنې په ځواب کې بېلا بېلې لارې چارې په ګوته کېدای شي لکه د اضافي اوبو اسراف مخنيوی، عامه پوهاوی، په کرنه کې عصري سيستمونه تطبيقول، د اوبو په استفاده کې د نيالګيو او پيپونو کنټرول، د چيک ډيمونه جوړول او نوري لارې چارې. اما دا ټول فعاليتونه په لنډ مهال کې ممکن نه دي، چې تطبيق شي او په اوږدمهال کې د تطبيق لپاره به دومره وخت نه وي، چې کار پرې وشي. په هر حال زه فکر کوم، چې په اوسنيو حالتو کې تر ځمکه لاندې د اوبو کمښت بحران مخنيوي لپاره يوازينۍ غوره او ګټوره لار تر ځمکه لاندې پر استفاده کيدونکو اوبو باندې د مالياتو وضع کول دي. د بېلګې په ډول په هر يو اينچ اوبو باندې چې له ځمکې څخه د سولر سيستم په مرسته استخراجېږي د يوه کال لپاره دې يوازې ۱۰۰۰ افغانۍ ماليه په داسې ډول واخيستل شي، چې د هماغه ماليې څخه بېرته په همدې سيمه کې د چيک ډيم او بند جوړولو لپاره کار واخيستل شي. دا کار له يوه اړخه په اړونده سيمه کې اوبه راګرځوي او له بله اړخه په ماليه ورکوونکو باندې فشار نه وي، ځکه چې د يوه کال په جريان کې دا ډېر کم مقدار پيسې ګڼل کېږي. زه د لا وضاحت په پار دلته يوه عملي بېلګه له ستاسو سره شريکوم؛ فکر وکړئ چې د زابل ولايت په شاه جوی ولسوالۍ کې د کال په جريان کې ټول اوسېدونکي ۱۰۰۰۰۰ اينچه اوبه له ځمکې څخه راباسي، که د هر اينچ پر سر ۱۰۰۰افغانۍ ماليه واخيستل شي، نو د ټولو اوبو ماليه به يوازې د يوه کال لپاره ۱۰۰۰۰۰۰۰۰ (سل ميليونه افغانۍ) وي. په همدې سل ميليونه افغانيو دې بېرته په همدې ولسوالۍ کې بېلابېل چيک ډيمونه او بندونه وتړل شي، چې تر ځمکې لاندې اوبه د بيا ځل لپاره له کمښته وژغوري. بناءً که دا پروسه په ټول هيواد کې تطبيق شي، نو له يوه اړخه به په ګټوره توګه د اوبو مديريت تر سره شوی وي او له بله اړخه دا اندازه ډېره کمه ده، چې په انفرادي ډول هېڅ کس له دې ډول ماليې څخه تېښته نه کوي. زه د يو افغان په حيث د اوبو برخې له متخصصينو، کادري غړو او ماهرينو څخه په ډېر درناښت هيله کوم، چې د اوبو مديريت او بحران مخنيوي په موخه کې جدي ګامونه واخلي او له دولت سره په ګډه ورته مناسبې حللارې را وباسي.

روسيه با شکستن طلسم، مسير روشنی را اساس گذاشت

احمد

روابط حسنه ديپلوماتيک، بازگشايی نمايندگی های سياسی و به رسميت شناختن يک کشور، برای بر قراری تعامل و ارتباط سازنده، ميان کشورها، از اهميت ويژه‌ای برخوردار است و اين ويژگی به عنوان ابزاری برای حل و فصل تنش‌ها، تأمين منافع دوطرف، حفظ صلح و امنيت بين‌المللی و...، به کار گرفته می‌شود، همچنان اين روابط به کشورها، امکان اين را می‌دهد تا با يکديگر پيرامون موضوعات مختلف به خصوص مسائل سياسی، امنيتی، تجاری، فرهنگی و به ويژه بين‌المللی، گفتگو کنند، توافقنامه‌ها و معاهدات منطقه‌ای و بين‌المللی را امضا و بستر همکاری‌های لازم را برای پيشبرد اهداف مشترک، هموار سازند.

روی اين اساس برای تعامل سازنده و معنادار دولت با دولت ، نه تنها روابط ديپلوماتيک ميان کشورها ، نهايتاً مؤثر وکارا است ، بلکه سهولت های مضاعف سياسی، امنيتی، اقتصادی و فرهنگی را نيز به دنبال دارد، زيرا به باور آگاهان امور بين‌المللی، هدف روابط بين‌المللی، درک مسائلی همچون؛ جهانی شدن اقتصاد سياسی، به رسميت شناختن کشور مستقل، ايجاد و تقويت امنيت بين‌المللی، پايداری زيست محيطی، توسعه اقتصادی، رعايت حقوق بشر و... می‌باشد.

بنابرين کشورهای همسايه، منطقه و جهان اکنون با درک اين ويژگی‌ها در تلاش اند تا روابط ديپلوماتيک خود را در محور تعامل سازنده و معنا دار با امارت اسلامی افغانستان برقرار کنند که واگذاری نمايندگی‌های سياسی مقيم ساير کشورها برای ديپلوماتان امارت اسلامی، گواه اين حقيقت است.

به‌تازگی مولوی امير خان متقی وزير امور خارجه امارت اسلامی افغانستان در ديداری که با سفير روسيه در کابل داشت، از تصميم حکومت روسيه پيرامون به رسميت شناختن امارت اسلامی، خبر داد و از اين اقدام روسيه استقبال و اين تصميم را مرحله جديدی در روابط مثبت، احترام متقابل و تعامل سازنده ميان دو کشور خواند. همچنان مولوی متقی اين تصميم واقع بينانه فدراسيون روسيه را به عنوان يک تحول مهم تاريخی در روابط دو کشور عنوان کرد.

روسيه در حالی امارت اسلامی افغانستان را به رسميت می‌شناسد که اين کشور از جمله کشورهايی است که در وهله‌ی نخست، سفارت افغانستان مقيم مسکو را به نماينده سياسی امارت اسلامی واگذار نمود و از آن زمان تا اکنون روابط حسنه ديپلوماتيک با امارت اسلامی دارد.

اساساً اين اقدام حکومت روسيه در شرايط کنونی، گام مهمی در راستای گسترش و تقويت بيشتر روابط ديپلوماتيک دو جانبه و چند جانبه، نه تنها ميان افغانستان و روسيه خواهد بود، بلکه گاميست تا ديگر کشورها در اين مسير حرکت و اقدام به رسميت شناختن امارت اسلامی افغانستان نمايند، زيرا امارت اسلامی تمامی معيارهای قبول شده بين‌المللی برای به رسميت شناختن را تکميل و از مشروعيت داخلی نيز برخوردار است.

گفتنيست، تحولات و تعاملات ديپلوماتيک در عرصه روابط بين‌المللی، نشان می‌دهد که قرن کنونی، عصر طلايی برای توسعه بيشتر ديپلوماسی است و تا عصرهای بعدی نيز ادامه خواهد داشت، زيرا توسعه ديپلوماسی در مسير رشد و توسعه يک کشور، خيلی‌ها مهم و اثرگذار است.

روی اين اساس مردم افغانستان از اين اقدام به موقع، فدراسيون روسيه، استقبال می‌کنند و اين حرکت سازنده را يک گام به جلو می‌دانند، اما در پهلوی آن از کشورهای همسايه و منطقه به خصوص سازمان ملل، انتظار دارند تا به خاطر هرچه بيشتر استحکام پايه‌های روابط ديپلوماتيک ميان امارت اسلامی افغانستان و ساير کشورها، نه تنها کرسی نمايندگی مردم افغانستان در سازمان ملل متحد را به امارت اسلامی واگذار کنند، بلکه اين نظام را هرچه زودتر به رسميت بشناسند.

د شهید امام العزیمة په یاد ځو اوښکې!

سعید غلجی

له نن څخه درې کاله وړاندې د (۱۴۴۴ه.ق) کال د محرم الحرام میاشتې په ۱۳مه نېټه، د عصر لوی عالم، ستر محقق، مجاهد او د زرګونو علماؤ او مجاهدینو استاذ امام العزیمة شیخ رحیم الله حقاني «تقبله الله» په خپله مدرسه «جامعه محمدیة، کابل» کې د قال الله او قال الرسول د تدریس پر مهال د تکفیري خوارجو له خوا په شهادت ورسېد، د حدیثو دوره ترې نیمګړې پاتې شوه او نه یوازې هماغه طالبان، بلکې ټول افغانستان ترې یتیم پاتې شو.

څرنګه چې شهید شیخ صاحب یو زړور او مجاهد عالم ؤ، نو د حق په بیانولو کې یې له هیچا وېره نه درلوده، خبرې یې په زړه کې نه ساتلې، هر څه یې د نر غوندې په منبر بیانول او د الله تعالی پر وړاندې یې خپلې غاړې خلاصولې.

شیخ صاحب د خورا زیات عمیق فکر، درایت او بصیرت څښتن ؤ، د دښمنانو پر پټو او ښکاره دسیسو اګاه او خپل مسؤلیت ته متوجه شخصیت ؤ. هغه پوهېده، چې د اسلام دښمنان له کومو لارو هڅې کوي او موخه یې څه ده، ټولې باطلې ډلې یې په رګ، رګ پېژندلې، له اساس او هدف څخه یې خبر ؤ، نیتونه یې ورمعلوم وو او په دې پوهېده، چې دغه باطلې ډلې څومره خطرناکې دي! ځکه خو یې د خپل سر په بیه د ټولو باطلو ډلو خلاف مبارزه کوله، طبعاً په دې لاره کې له ډېرو خطراتو سره مخ شو، څو ځله یې د شهادت پلانونه جوړ شول او بالآخره په همدې لاره کې شهید هم شو، خو موږ او تاسې ته یې د حقانیت مستقیمه لاره راوښوده او د ټولو باطلو ډلو کرغېړنې څېرې یې راته په ډاګه کړې.

له یو محدود شمېر شیعه ګانو او وهابیانو پرته، نور ټول افغانان مقلدین او احناف دي او تکفیري خوارج پر موږ ټولو د مشرکینو حکم کوي، خو دا چې زموږ د ټولو علماؤ په منځ کې یې د شهید شیخ صاحب رحیم الله د ترور لپاره بیخي ډېرې هڅې کولې، وجه یې دا وه چې شهید شیخ صاحب د دیني علم تر څنګ، د خورا زیات بصیرت او درایت څښتن ؤ او الله تعالی د حق بیانولو یو خاص استعداد ورښنلی ؤ، د باطلو ډلو خلاف یې داسې بحث او مناظره کوله، چې اورېدونکو ته یې سمدستي قناعت ورباښه، خبرې یې ټولې مستندې وې، د خوارجو تاریخ، اساس او اهداف ورمعلوم وو او خوارج هم په دې پوهېدل، چې دا سړی زموږ پر وړاندې له ټولو لوی خنډ دی، ځکه خو یې دغه شوم پلان ترتیب او خپلو مردارو موخو ته ورسېدل.

خو لله الحمد؛ خوارج هم داسې ترې تم شول، چې اوس یې څوک نوم هم نه یادوي. دا ځکه چې شیخ صاحب تر خپل شهادت وړاندې په زرګونو علماء روزلي وو او د اسلامي امارت ټول مجاهدین یې د خوارجو له خطراتو او بدو نیتونو خبر کړي وو، نو که نن شیخ صاحب نشته هم، خو توره یې چلېږي، چېرته چې خوارج سر پورته کوي، همالته ځای پر ځای ختمېږي.

د شهید شیخ صاحب په ژوند کې د نورو علماؤ لپاره هم خورا زیات پند او عبرت شته، هغه دا چې نور علماء کرام هم باید د حق بیانولو کې د شیخ صاحب لاره خپله کړي او له هېچا څخه ونه ویرېږي، نو هم به یې ژوند عزتمند وي او هم به یې مرګ سپېڅلی وي. شیخ صاحب د حق بیانولو کې نه په بې ځایه مصلحتونو پسې ګرځېده، نه یې له مرګ څخه وېره درلوده، نه د شخصي ګټو او نوم ښان په کیسه کې ؤ او نه یې د چا د خپګان اندېښنه کوله او همدا د حقیقي مسلمانانو ښنبه ده، چې د حق په لاره کې د هیچا له ملامتیا څخه ونه ویرېږي. نه د خپل شهرت، منصب او مقام په کیسه کې شي او نه له مرګ او تهدید څخه وډار شي. بلکې یوازې د الله تعالی رضا یې لوی هدف وي او خپل ژوند او مرګ یې د الله تعالی لاره کې وقف کړی وي.

لله الحمد؛ موږ اوس هم دغه شان ربنتیني او حق ګویه علماء لرو، باید چې قدر یې وکړو، خبره یې ومنو، مرسته یې وکړو، پوښتنه پرې وکړو او له دښمنانو څخه یې حفاظت وکړو، کنه خدای مه کړه، سبا به په دوی پسې هم همدغه شان اوښکې تویو، خو بیا به هیڅ په لاس نه راځي. له بده مرغه؛ زموږ په ټولنه کې دا ډېر ناوړه دود دی، چې په ژوند د هیچا قدر نه کوو، خو چې کله یې له لاسه ورکړو، بیا یې په قدر پوه شو، ساندې او ویرونه پسې کوو او په چیغو، چیغو یې ارمان کوو، خو هوښیار ملتونه هغه دي، چې په خپل ژوند د خپلو پوهانو قدر کوي، استفاده ترې کوي او خبره یې مني.

وروستی دا چې موږ باید د خپلو دغسې ربنتینو اتلانو یاد همېشه تر او تازه وساتو، د هغوی هڅې او قرباني بیان کړو، خپل نوي نسل ته یې معرفي کړو او ځوانان مو په دې پوه کړو، چې زموږ اصلي اتلان څوک دي، څه یې کړي او پر موږ یې څومره درونډ احسان بار دی.

در فصل تابستان تدابیر صحی را جدی بگیریم

استوار

گرمایش هوا در فصل تابستان بیشتر از دیگر فصل ها در کشور بوده وهمه می‌دانیم که در این ایام امراض مختلف دامنگیر ما وخانواده های ما گردیده، حتا باحیات هموطنان ما بازی می‌کند.

معمولاً در فصل تابستان امراض اسهالات بیشتر گردیده که بی نهایت خطرناک است، آفتاب زده‌گی و جل زده‌گی انسان زیر آفتاب سوزان زیاد امکان پذیر است. به غرض جلوگیری از مصاب شدن به چنین مریضی ها بهتر است از قبل تدبیر داشته باشیم.

اگر هموطنان عزیز ما به گفته های مراجع صحی و درمانی تمکین نمایند و تدابیر از قبل را جدی بگیرند ان شاالله که به دور از گزند امراض فصلی می‌باشند.

پاکی ومراعات نمودن نظافت ، دقت در قسمت خوردن آب وغذا و پوشیدن لباس ایمنی از تابش آفتاب می‌تواند انسان را از مبتلا شدن به امراض نگهدارد.

در زمینه آگاهی دهی امراض فصلی، تیم های سیار صحی وزارت صحت عامه کشور، رسانه‌ها، امامان مساجد، بزرگان محل وخانواده ها مسئولیت دارند تا در مورد چگونگی مبتلا نشدن به امراض برای مردم آگاهی دهند.

طوری‌که در فوق ذکر کردیم، خوردن و نوشیدن غذا وآب و پوشیدن لباس باحفظ نظافت موارد اند که باید در نظر گرفته شوند.

اگر علایم بروز امراض در فردی از خانواده دیده شد، بهتر است به نزدیکترین داکتر ویا درمانگاه نزدیک مراجعه گردد، زیرا در آغاز بروز مریضی مقاومت وجود مریض بالا بوده، به زودی درمان می‌شود واگر مریضی پیشرفته شد، درمان وتداوی مریض مشکل می‌گردد احتمال خطر بیشتر متوجه مریضی می‌گردد.

استفاده از آب های ناپاک ، غذاهای باسی وشب مانده ودر زیر آفتاب سوزان بودن مواردی اند که باید در نظر گرفته شوند. در ضمن غذاهایی‌که در روی جاده‌ها وکراچی‌ها بفروش می‌رسند، صحی نبوده باعث مبتلا شدن انسان به امراض مختلف می‌شود. همانگونه که میگویند وقایه بهتر از تداویست باید ما خود تدابیر صحی را در فصل گرم تابستان جدی‌تر مراعات نماییم، زیرا صحت نعمت بزرگ است وباید همیشه به صحت خود توجه داشته باشیم.



کارتون هفته

د ځوانانو د انحراف لاملونه او د اصلاح اړتیا

ابو عمر

موږ په داسې یوه دوره کې ژوند کوو، چې شکونه، وسوسې او فتنې هر لور ته خپرې شوې دي. د شک او هوس فتنې د اورېدونکو او لیدونکو وسایلو له لارې تر کورونو، کوڅو، دښتو او سمندرونو پورې رسېدلي دي. له بده مرغه، زموږ ډېری ځوانان، که هلکان دي یا نجونې، د همدې فتنو ښکار شوي او له سمې لارې منحرف شوي دي.

ځوانان زموږ د راتلونکې ټولنې ستنې، د هېواد پانګه او د ټولنې هیله بلل کېږي، خو خواشینوونکې خبره دا ده، چې زموږ د ډېری ځوانانو عقیده، فکر او اخلاق له انحراف سره مخ شوي دي. هغوی د کفارو نظریات منلي او ځانونه یې له کفارو سره هم‌شکله جوړ کړي دي.

له بلې خوا، مؤمنې مېرمنې چې زموږ د کورونو عزت، د ټولنې میندې او د امت د رهبرانو روزونکې دي. که چېرې دوی پر سمه لار روانې وي، نو د دوی له برکت ټولنه سمېږي او راتلونکی یې روښانه کېږي، خو که دوی منحرفې شي، نو د ټول امت ګمراهي یقیني ده.

دلته مهمه پوښتنه دا ده؛ چې ولې زموږ ځوانان منحرف او له لارې وځي؟

د ځوانانو د انحراف مهم لاملونه:

۱- له قرآن او سنت څخه انحراف:- کله چې انسان د قرآن او حدیثو له لارښوونو څخه مخ واړوي، له نېکمرغۍ بې برخې کېږي. الله تعالی فرمایي: «هر څوک چې زما له ذکر نه مخ واړوي، یاد کس ته به ژوند تنګ وي او موږ به یې د قیامت په ورځ ړوند را ولاړ کړو.» (طه، ۱۲۴)

۲- شیطان:- د انسان او شیطان د دښمنۍ تاریخ له هماغې لومړۍ ورځې پیل شوی، کله چې شیطان د انسان له پیدا کېدو سره حسد وکړ او قسم یې وخوړ، چې بني آدم به له حقې لارې وباسي.

۳- د مور او پلار فساد:- هر ماشوم په فطري دین (اسلام) پیدا کېږي، خو که والدین یا یو له هغوی فاسد وي، دغه فساد پر اولاد هم اغېزه کوي.

۴- د چاپېریال فساد:- انسان د خپل چاپېریال زوی دی. که محیط فاسد وي، انسان هم له فساد سره مخ کېږي.

۵- بد ملګري:- بد ملګري انسان له نېکۍ لرې کوي، له الله او رسول الله سره یې دښمنۍ ته تیاروي او له فتنو، ګناهونو او ګمراهۍ سره یې اشنا کوي.

۶- د وخت ضایع کول:- ډېری ځوانان د وخت ارزښت نه پېژني، د دې پر ځای چې یې په علم، کار، تقوا او اصلاح ولګوي، بې ګټې چارو کې یې مصرفوي.

۷- مالداري او ناشکري:- ځینې شتمن ځوانان د نعمت شکر نه ادا کوي؛ بلکې پر ځای یې دا نعمتونه د فساد، ګناه او لهو و لعب لپاره کاروي.

۸- فقر او محتاجي:- فقر ځینې ځوانان دې ته اړ باسي، چې له خپل کلتور او دین نه واوړي. آن ځینې ښځې د پیسو لپاره خپل عزت پلوري او له ځان سره نور هم ګمراه کوي.

۹- ناپوهي او جهالت:- علم د اصلاح بنسټ دی، خو ډېری ځوانان عقل ته ارزښت نه ورکوي؛ بلکې بدن ته ارزښت ورکوي او مال ته د هدف په سترګه ګوري.

۱۰- نشه یي توکي:- ځینې ځوانان د پیسو د لاسته راوړلو لپاره د نشه یي توکو کاروبار ته مخه کوي او ځینې نور یې د نشې کارول پیلوي او خپل عقل، بدن او ایمان له منځه وړي.

۱۱- د فساد وختونه:- په دریو میاشتو رخصتیو کې ځینې ځوانان بې پروا پرېښودل کېږي. لوبو، موسیقۍ، بې هدفه ګرځېدلو او شپنیو مجلسونو ته مخ کوي.

۱۲- د فساد ځایونه:- د فساد ځایونه لکه ساحلي سیمې، قهوه خانې، هوټلونه او ستېډیومونه، هغه ځایونه دي چې هلته نارینه او ښځې یو ځای کېږي او فحشا او جرمونه ترسره کېږي.

۱۳- نامناسب شیان لیدل:- د انټرنټ، ټلوېزیون او فلمونو له لارې ځوانانو ته حرام ښکارېږي. هغوی د حلال او حرام تر منځ توپیر نه شي کولای او د سترګو ساتنه نه کوي.

۱۴- نامناسب اوازونه اورېدل:- د ځینو ځوانانو موبایلونه له فحشا او موسیقۍ ډک وي، د حرامو مینه ناکو اوازونو او عشقي داستانونو اورېدل، مسلمان د اسلام له لارې باسي.

۱۵- ناروا لیکنې:- په ځوانانو کې د بې شرمۍ او جنسي غوښتنو پیغامونه ډېر شوي، موبایلونه او ټولنیزې شبکې د فساد او بې حیایۍ مرکزونه ګرځېدلي دي.

۱۶- له دیني مجالسو لرېوالی:- د ذکر او علم له مجلسونو لرېوالی د زړه سختوالی او د ایمان کمزورتیا زېږوي. علمي مجلسونه ایمان ته قوت ورکوي او د ذکر مجلسونه انسان له ګناهونو ساتي.

۱۷- درانه مهرونه او د واده ستونزې:- ځوانان د نکاح مهرونو او د واده لوړې غوښتنې د زنا، فحشا او حرامو اړیکو ته جوړولو ته هڅوي.

۱۸- یتیم والی او بې سرپرستوب:- هغه ماشوم چې پلار یې نه وي، د روزنې او تربیې د نشتوالي له امله د انحراف، بې پروایي او رواني فشارونو ښکار کېږي.

۱۹- د مصلحینو غفلت:- د ټولنې مصلحین، مشران او والدین کله ناکله له خپلې دندې غافل پاتې شي. دا غفلت فاسدینو ته دا زمینه برابروي، چې ځوانان بې لارې کړي.

۲۰- بې قیده ازادي:- ځوانان ازادي د هر څه کولو په معنا اخلي، حال دا چې اصلي ازادي د الله د حدودو درناوی دی. بې قیده ازادي له دین، اخلاقو او انسانیت څخه لرې والی دی.

د ځوانانو د انحراف مخنیوی یوازې په شعارونو سره نه کېږي؛ بلکې دا زموږ ملي، دیني او اخلاقي مسئولیت دی. دولت، ملت، علماء، ښوونکي او والدین باید په ګډه کار ورته وکړي، تعلیمي، فکري، عقیدوي او ټولنیز اصلاح ته باید لومړیتوب ورکړي. که د خپلو اولادونو اصلاح ونه کړو، نو راتلونکي نسلونه به مو له لاسه ووځي.

هېواده بیا دې جوړوم

محمد قاسم «محسن»

هېواده بیا دې ړنګ ګودر جوړوم
ستا نړېدلی هر یو در جوړوم
ستا کنډوالې به بیا آبادې کړمه
نن ښوونځی،کلینک،ممبر جوړوم
ګوره لګیا یم کانالونه باسم
ستا شاړې ځمکې په هنر جوړوم
له لوړ پامیر ورته ډېرې راوړم
ستا لویې لارې په مرمر جوړوم
چې مخه ونیسي د هر یرغلګر
زه به یو داسې لوی لښکر جوړوم
دا تور ماښام له خپل دیاره باسم
زه به د امن سپین سهر جوړوم
چې د غم اوښکې یې په مخ نه راځي
زما ولسونو ته اختر جوړوم
خوني خزان یې ښکلاګانې وړې
د ازره وال محسن لوګر جوړوم

غزل

نصرت‌منګل

د کړې وړې پګړۍ بلا دې واخلم
د ځادر او د لونګۍ بلا دې واخلم
شم قربان له ډېرينې عقيدې دې
د باتورې زندګۍ بلا دې واخلم
په اسلام او په وطن مين سرتېریه
د توپک او ګردنۍ بلا دې واخلم
د شاهانو تخت و تاج درځخه جار شه
د غیورې ملنګۍ بلا دې واخلم
له خزن شې په امان نصرت منګله
د ښايسته رنګې ځوانۍ بلا دې واخلم

غزل

شپونکۍ کوچی

د خپلو مړو او بې کفنه هیلو سر ته ناست یم
د ژوندانه د اخیري مازدیګر لمر ته ناست یم
بلا موده وشوه له یو بله جدا یو دواړه
د مهاجر لالي د ورانې مينې ور ته ناست یم
نړۍ د باد په شان پر لوري د جدت روانه
زه د بابا د خونړي تاريخ سنګر ته ناست یم
که په کې یو مري او که سل زما بلا ور پسې
د پښتنو خان یم د دوو قبیلو شر ته ناست یم
د پرمختګ له قافلې سل کاله شاته پاتې
زه اوس د آس له شا را کوز شومه موټر ته ناست یم
د خیال صحرا کې له کېږدۍ سره شپېلۍ غږوم
خړ پړ شپونکی یمه رمه باسم وندر ته ناست یم

د شعر خوند او کیفیت

حیات الله حلیم

شعر د شاعر د زړه آواز او د روح پرواز دی، یا په بل عبارت شعر د شاعر په فطري عاطفه ولاړ هغه منظوم کلام دی، چې د ټولنې له هسکو ټيټو په الهام يې د مسجع الفاظو په ذريعه ټولنې ته وړاندې کوي، خو د متن او محتوا په لحاظ شعر په شاعر پورې اړه لري ځکه د شاعر احساسات او ادراکات د خپلې ټولنې په نېمګړتیاوو راڅرخي او زیاتره په هغه کړیکو او څړیکو ولاړ وي، چې شاعر په خپل چاپېریال کې ورسره مخ وي.

که په دې اړه څو ګامه نور هم پر مخ لاړ شو، نو شعر د منظومو کلماتو هغه مجموعه ده، چې د شاعر له خوږو او ترخو احساساتو څخه د قال په ژبه استازیتوب کوي، ځکه شاعر د عام ولس په منځ کې ژوند کوي او د هغوی د هیلو او آرمانونو ترجمان دی، د شعر ویل او جوړول، ځانګړې مهارت او فطري قريحه لري، هر څوک شاعر نه شي جوړېدای، پخواني شاعران اکثره بیسواده و، شعرونه به یې د بل کس لخوا مستند کېدل، خو داسې اشعار په میراث ترې پاتې دي، چې نن يې يو فرد څوک نه شي جوړولای، همدا وجه ده، چې د شاعر قدر منزلت له ډېرو پخوا زمانو د بشري ټولنو ترمنځ محفوظ او شاعر د قدر وړشخصیت ګڼل کېده، پخواني شاعران که د دري ژبې پښتانه ول، يوه ځانګړې باطني برخه يې هم درلوده او وليان ول، ځکه د اشعار تفسير يې هغه حقيقتونو ته ور وصلېدل، چې د بشري ټولنو خير او فلاح به کې نغښتي ول، د پخوانيو اکثره شاعرانو له(ديوانونو) تاريخونه جوړېدل،د فردوسي منظومه شاهنامه د پخوانيو تاريخونو فوق العاده موخذ ګڼل کېږي،ځکه ټول مورخين پرې استناد کوي.

خو دا چې شعر د انسانانو په ژوند کې څه وخت را پيل شوی، دې پوښتنې ته تر اوسه کره ځواب نه دی موندل شوی، ځکه هېڅ تاريخي روايت نه ده ثابته کړې، چې شعر د انسانانو د ژوندانه په کومه مرحله کې را منځ ته شوی او يا څومره تاريخي مخينه لري؟ مورخين بشري تاريخ په دوو دورو وېشي، خو په افغانستان کې بيا دا دورې په درېيو، تاريخي له تاريخ د مخه او د دې دواړو ترمنځ د ويدي سرودنو، په دورو وېشلي دي، چې په دې توګه ويلای شو، د ويدي سرودنو اشعار(منظوم نصايح او اندرزونه) له تاريخي دورې د مخه د آريايانو په منځ کې په ځانګړې منظوم ډول موجود او د (ريشيانو) په نوم د هغه وخت د مذهبي متنفذينو لخوا به عوامو ته اورول کېدل او آريايي ټولنه به پرې رهبري او اداره کېدله، نو ځکه د اشعارو پيل په پخوانۍ آريانا کې له تاريخي دورې د مخه ثابتېږي، خو د دې خبرې يادول هم اړين دي، چې ويدي سرودونه، سينه په سينه متاخرينو، يا تاريخي دورو ته را نقل شوي او دا هم نه ده معلومه، چې د ويدي سرودونو دوره څومره اوږده وه؟

د نړۍ په ټولو ژونديو ژبو شعر ويل کېږي يا په بل عبارت هېڅ داسې ژبه نشته، چې شعر او شاعري ونه لري که د دې ټولو ژبو اشعار سره را ټول کړو، نو هره ورځ به ښايي په ميليونو منظوم اشعار جوړېږي او خپرېږي.

د شعر کورنۍ ډېره پراخه ده، څلوريزې، بګټۍ، سروکي، غزل، آزاد شعر، سپين شعر او صوفيانه شعرونه ټول د اشعارو په کورنۍ پورې اړه لري او د زمان په مقطع کې په منظومه بڼه د شاعر له خولې را وتلي وي، له بل پلوه شاعري يوه الهي ډالۍ او پيرزوينه هم ګڼلی شو، نو بختور به هغه کس وي، چې الله تعالی يې په فطري ډول شعري قريحه په وجود کې را بيداره کړې وي.

خو دا چې شعر کسبي پديده ده او که فطري ؟ دا بله مهمه خبره ده، خو سم او لنډ ځواب دادی، که فطري شي الهي لورېينه يې بللی شو او که کسبي شي بيا هم د قدر وړ دی، ځکه د محنت او زحمت له لارې ترلاسه شوي شاعران په دې باور دي، چې له کسبي شاعر د فطري شاعر شعر په کيفي لحاظ لوړ وي، ځکه فطري شاعران اکثرا ملنګ مزاجه وي، د خوب پر مهال کله چې خپل بستر ته ځي نو قلم او کاغذ له ځان سره تر سروېږدي لاندې ږدي، ځکه کله چې د شپې په قرارو (شومو) کې شعري څپه پرې راشي را ويښ شي را پاڅي او شعر وليکي او يا هم کله چې د ورځې په لارې روان وي د يوشي په ليدو يې يو ناڅاپه احساسات را وپارېږي او په اړه يې داسې منظوم کلمات تر خوله وځي چې وروسته په خپله ورته حيران وي.

که څه هم شعر کوم ځانګړی تعريف نه لري او هر شاعر په خپله مرضی او د خپلو اشعارو پر بنا شعر تعريفوی خو په متحد المال قول شعر د هغه خوږو، منظومو، احساس پاروونکو کلماتو او جملاتو مجموعه ده، چې د شاعر د زړه له کړيکو او څړيکو ترجماني کوي، پاته دې نه وي، چې شعر هم د نثر په شان يوه موضوع بيانوي ، خو په دې توپير،چې شعر يې په هغه منظوم نظم بيانوي، چې په ادا کې يې خوند ، کيفيت او ښکلا نغښتې وي او اورېدونکی په (وجد) را ولي، چې دا وجد بيا په عامو نثري ليکنو کې نه ليدل کېږي.

په مجموع کې شعر د شاعر د ذهني تراوشاتو يو تل پاتې کلامي ميراث دی، چې د کاغذ پرمخ يا د کتاب په بڼه راتلونکو نسلونو ته باقي پاتېږي او لويه ښېګڼه يې داده، چې په عين کلماتو او فردونو څوک شعر نه وايي، ځکه مخکينی جوړشوی شعر د شاعر ملکيت ګڼل کېږي، که کوم شاعر يا عادي کس د کوم بل شاعر شعر کاپي کړي حتمي رسوا کېږي، نو ښه داده چې د اشعارو په پنځولو کې په خپله د شاعر لخوا کوښښ وشي.

يوه سپارښتنه دا هم ده، چې شعر په زيات محنت پنځول کېږي، نو شاعرتل بايد په خپلو اشعارو کې دغه ټکي ته پاملرنه ولري، چې (زماني) يا د چا په مدحه کې شعرونه جوړ نه کړي ځکه شعر يې نن وي، سبا د يوه سياسي بدلون په ترڅ کې خپل اهميت او ماهيت بايلي او څوک يې په خوله هم نه شي راوړلی ، ځکه د يوه خاص رژيم په مدح کې غږول شوی وي او د رژيم په بدلون سره بيا اورول جرم ګڼل کېږي دا سې اشعار هېڅ وفا او بقا نه لري، د خلقيانو د رژيم شعرونه، چې د هماغه نظام د حاکميت په دوران کې چلېدلي او اوس له کاره لوېدلي اورېدل سخته ګناه ده، خو له ټولو ښه شعر هغه دی، چې د معنوي ارزښتونو ستاينه په کې شوې وي، ښه شعر هغه دی، چې د ملي نواميسو د ساتنې غږ په کې اوچت شوی وي او ښه شعر هغه دی، چې له تعصب پرته د ټولنې ستونزې په کې را غبرګې شوې وي او د خپل هېواد په ملي او معنوي ارزښتونو، منظوم شوی وي.

يونليک - د اسلامي تمدن او تاريخ تر يوه ستر ښاره!

شپږمه برخه / م حماد شيرزاد

د امام بخاري رحمه الله د مزار له زيارت کولو وروسته، بېرته د سمرقند ښار په طرف وګرځېدو او هلته مو د تيمور لنګ د لمسي مشهور فلسفي او ستورو پېژندنې ماهر مرزا الوغ بيغ رصد خانه، چې له ښاره په څو کيلو مترۍ کې پرته وه، د کتلو لپاره لاړو، چې تاريخي قدامت يې تقريباً تر ٦٠٠ کلونو زيات دی، دا رصد خانه د اسلامي تمدن او تاريخ له لحاظه يوه ډېره مهمه بېلګه ده، چې مسلمانانو کوم نامتو خلک او علماء لرل، دا رصد خانه موږ ته ښايي، چې مسلمانانو په منځنيو پېړيو کې د علم، رياضياتو او فلکياتو په ډګر کې څومره پرمختګ کړی و او همدا رصدخانه د اسلامي تمدن، علم او تفکر يوه غوره نښه ده، مرزا الوغ بيګ، چې د اميرتيمور لمسی، د سمرقند واکمن او يو ستر شخصيت و، د هغه له لوري په ١٤٢٠ ميلادي کال کې يې بنياد کېښودل شو او د څو کلونو په موده کې په ډېر مهارت او غوره انداز سره جوړه شوه.

د رصدخانې اړوند هلته معلومات ډېر کم وو، خو د نورو تاريخي ليکنو او معلوماتو له مخې ياده رصدخانه د الوغ بيګ له لوري د ستورو، اسماني سيارو، ورځو، شپو او نورو مهمو ساينسي، هندسوي، رياضيکي او فلکي معلوماتو د راټولولو او هلته د علم خپرولو لپاره جوړه شوې وه، ويل کېږي، چې په ياده رصدخانه کې د يو آله د عظيم سيکستانت په نوم وه، چې تر ٦٠ مترو يې اوږدوالی درلود، د اسماني اجسامو، ستورو، سيارو، ځمکې حرکت او نور د فلکياتو اړوند معلومات يې ثبتول او دوی پرې اندازه کول، د اوسني دور ساينس پوهانو ياده آله کتلې او ويلي يې دي،چې د اوسني دور له آلو سره يواځې د يو دقيقې وخت فرق لري، هغه ډېره دقيقه جوړه شوې وه او په ياده رصدخانه کې د زيج سلطاني په نوم د فلکياتو يو جدول پروت و، چې په ټوله اروپا کې تر ١٨٠٠ پورې يو منل شوی او معلوماتي معتبر جدول ګڼل کېده، چې له امله يې تقريباً ١١٠٠ ستوري ثبت شوي وو.

ياده رصدخانه نن يواځې د سياحت، تماشې او ليدنې ځای دی، خو ماته يې د اسلامي امت ضعف او بې غوري راپه ګوته کړې، موږ په تاريخ کې د هر علم او هر فن ماهرين لرل،لکه د ساينس، فزيک، جغرافيې، هندسې، رياضي او نور فلکي علوم وو، په کومو چې نن اروپا او نور کفار ناز کوي، دا د مسلمانانو اختراع او ايجادونه دي، خو دا چې موږ يې قدر و نه کړ، په ناچيزه شيانو مو خپلو کې سره ووهل، وغولېدلو، خطا شو، نو نن نړۍ را باندې پاچاهي کوي او موږ د مظلومانو په څېر د غزې او نورو مظلومانو سيل کوو.

ياده رصدخانه موږ ته راښايي، چې په تاريخ کې مسلمان تل هر علم او هر فن خدمت ترسره کړی، همدغه رصدخانه کې په سلګونو ستور پوهان روزل شوي، هغه وخت چې د هر وخت تعين د ستورو په ذريعه کيدلو، د سفر، شپې تګ، قبلې او نور مهم شيان د همدې ستورو په کتنه او حرکاتو کېدل، مسلمانانو دا هر څه په آسانۍ سره کول، آن تر دې چې زياتو کفارو د همدې مسلمانانو نه زده کول او بيا يې خپلو سيمو ته انتقالول.

همالته د يادې سيمې له يو اوسېدونکي ازبيک څخه د دې رصدخانې اړوند چې په تاجيکي يې هم خبرې کولې وپوښتل، هغه ويل دا يو کلا او کوټه ده، موږ هر وخت راځو دلته چکر وهو، چمن کې يې ناسته کوو، خو نور يې ورته معلومات نه درلودل، چې مرزا الوغ بيګ څوک و او دا ځای يې د څه لپاره جوړ کړی او دلته د وخت کوم مهارتونه ښکاره کېدل، همدا رصدخانه د څو کلونو خدمت وروسته هلته د مذهبي اختلافاتو له امله ډېره تخريب شوه، چې زياترو د وخت ناپوهانو د جادو او نورو ټاپو لګولو په وجه دا ځای بدنام کړ او دا نعره به يې پورته کوله، چې دلته د خدای په تخليقي نظام کې ګوتې وهل کېږي، فلان او بستان کېږي، نو هماغه وو، چې دا رصد خانه بنده او بيا په ١٩٠٨ميلادي کې د يو روسي لرغون پوه له لوري کشف او حکومت د يو تاريخي آثار او تمدن پر بنياد بېرته ترميم کړه.

نور بيا...



د اقلیم او چاپېریال ساتنې مثلث؛ خلک، حکومت او نړۍ

عمر ناصح

د بشر خپلسریو لاسوهنو ځمکه دې ته نږدې کړې، چې له ژوند او ژواکه ووځي. هر څومره چې په طبیعت کې د انسان لاسوهنه ډېرېږي، هومره ډېره تباهي رامنځته کوي او زیان یې بېرته بشر ته رسېږي. په اوسني وخت کې انسانان د اقلیمي بدلون په نوم له یوه ستر ناورین راتېرېږي. انسانانو په لوی لاس طبیعت ویجاړ کړی او طبیعت دغه ویجاړی د سېلابونو، زلزلو او وچکالۍ په بڼو کې بېرته راغبرګوي. نړۍ کې ورځ په ورځ مادي پرمختګ راځي، خو دا هر څه پر طبیعت بوج کېږي او د ځمکې عمر را لنډوي. د دغه ټکنالوژیک پرمختګ ګټه څو هېوادونو او زبرځواکونو ته رسېږي، خو پور یې ټیټ پوړ او بې وسه ملتونه ورکوي. پرمختللي هېوادونـــه د طبیعت په ویجاړۍ کې پوره پـــوره لاس لري. دوی خپلې ذروي، هستوي او نورې وسلې ازمایي، اټومي بټۍ، د صنعت بیسارې وده، له سمندرونو ناوړه ګټه اخیســـتنه، د وسلو ازمیښت، د ګڅانه یي ګازونو تولید او ډول ډول وسلو کارونې د ځمکې هوساینه اخیستې ده. د تېر په پرتله په ټوله نړۍ کې د ګرمۍ درجه پورته شوې او ښایي سږ کال د ریکارډ کچې ته ورسېږي. موږ وړاندې وویل چې عملاً د دغو خپلسریو او طبیعت ســـره د ظلم ننداره موږ بېرته جبرانـــوو. د تودوخې د درجې لوړوالی، د ناڅاپي ســـېلابونو راوتل، د اوبو د زېرمو وچوالی، قحطي، د یخچالونو ویلې کېـــدل او د ځړځایونو له منځه تلل یې بېلګې دي. وړاندوینې ښیي، چې راروانې څو اوونۍ به زموږ د ګران هېواد په ګډون د اسیا یو شمېر هېوادونه له بیسارې ګرمۍ سره مخ شي. د وړاندوینو له مخې، ښـــایي چې د تودوخې درجه له ۴۵ واوړي. سږ کال د پلازمېنې کابل په ګډون په یو شمېر ولایتونو کې سخته ګرمي احساسېږي، چې پرته له شکه د اندېښنې وړ ده.

افغانســـتان د نړۍ او د منځنۍ اسیا له هغو هېوادونو ګڼل کېږي، چې د نورو په پرتله له اقلیمي بدلون څخه ډېر زیانمن شوی او د زیان دا کچه د وخت په تېرېدو سره لا لوړېږي. د افغانستان طبیعت او اقلیم په وروستیو ۴۰-۵۰ کلونو کـــې نه‌جبرانېدونکي زیانونه لیدلي دي. بدبختانه چې افغانستان د اقلیمي بدلون ښکار شوی، خو دې برخه کې هېڅا هم نه خواخوږي ښـــودلې او نه یې هم عملاً د همکارۍ میدان ته رادانګلي دي. د دغـــو زیانونو لوري او بعدونه بېلا بېل دي، خو عمده یې ګلخانه یي ګازونه، د تجاوزګرو له لوري د هېواد اشـــغال، جګړې او نور دي. پر دې حقیقت باید سترګې پټې نه کړو، چې موږ هم د خپل چاپېریال په ویجاړونه کې ښکېل یو او د ملامتیا یو لوری موږ هم یرغلګرو د خپل ځان د ساتنې په پار هر خنډ لوټپه کاوه، تر څو د لید ساحه یې پراخه شي. په همدې لړ کې یې د افغانستان ګڼ ځنګلونه لوټپه کړل، ښنې بیدیاوې یې سپېرې کړې او له هر شین بوټي سره یې دښمني اعلان کړه. په همدې کلونو کې د افغانستان د ځنګلونو شنه ساحه محدوده شوه. همدا شان جګړو زمـــوږ د اخلاقو او وطنپالې پولې هم ونړولـــې او په لوی لاس موږ شـــنې ونې د تبرونو خوراک کړې. د افغانستان چارتراش او سپېدار مو په ناچیزو پیسو ګاونډیو هېوادونو ته قاچاق کړای شول. دا چې اوس د ګرمۍ شـــدیده څپه، وېرونکي او بې وخته سېلابونه تجربه کوو، دا د همدې بې غورۍ وجه ده. له دې وړاندې چې د دغه ناورین د مخنیوي لارې چارې وسنجوو، یوه یادونه اړینه ده، چې افغانان د نړۍ د اقلیم په بدلون کې هېڅ لاس نه لـــري. دا هغه امتیاز دی، چې افغان حکومت ترې د یوه سپر په توګه استفاده کولی شي او نړۍ قناعت ته را بللی شي. له افغان خاورې هېڅ داسې کړنه نه ده ترسره شوې، چې د نړۍ د اقلیم په بدلون کې دې اغېز ولري. همدا شان افغانستان د کاربن ډای اکساید او نورو شـــین کورېزو ګازاتو په تولید کې هم د پـــام وړ ونډه نه لري. له دې داسې ښکاري چې افغانســـتان دې برخه کې قرباني هېواد دی. د چاپېریال ساتنې موضوع یوازې په یوه لوري پورې نه اړوندېږي، بلکې دا د درېیو لوریو ګډ مسئولیت دی. حکومت، نړۍ او هېوادوال، درې واړه ورته مسئولیت لري. تر اوسه نړۍ د افغانستان چاپېریال ته د اوښتي زیان پور نه دی ورکړی او آن په نړیوالو غونډو کې یې هم د افغانستان د استازو شـــتون نه دی منلی. فردي، دولتي هڅې او د چاپېریال د خوندیتوب د نړیوالو سازمانونو پاملرنه کولی شي، افغانستان له دې بد حالته راوباسي. دلته د همدغو درېیو لوریو مسئولیتونو او نقش ته تم کېږو.

په فردي توګه د خپل چاپېریال او طبیعت د ســـاتنې په تړاو موږ شرعي او ملي مکلفیت لرو. په قران کریم او حدیثونو کې د چاپېریال ساتنې، پاکوالي، اصراف، د ونو او بوټو د کرلو او نورو په تړاو ګڼ نصوص شته. هر کس د خپل چاپېریال په ساتنه کې ونډه لري، چې ځینې لارې چارې یې په لاندې توګه یادولی شو:

۱ـ د اوبو په لګښت کې پام

د افغانستان د یوه وګړي په توګه موږ ټول شرعي او ملي مکلفیت لرو، چې د اوبو په کارونه کې پوره پام وکړو. د اوبو اصراف نه‌جبرانېدونکی دی. د بېلګې په توګه که یوازې د کابل نفوس ۵ میلیونه په پام کې ونیسو او داسې وانګیرو چې هر تن یو لېټر اوبه لګوي؛ نو یوازې د کابل له تله ۵ میلیونه لېټره اوبه استحصالېږي. دا یوازې د یوه حدس تر کچې دی. که همدومره وګړي نیم نیم لېټر اوبه سپما کړي، نو په ورځ کې به مو ۲.۵ میلیونه لېټره اوبه زخیره کړې وي. د اوبو په سپما کې باید هر کس له زړه کار وکړي. له اودس او ځان مینځلو نیولې، تر موټر مینځلو، جامو مینځلو، کور او نورو صفاییو پورې باید د اوبو په لګښت کې پام وشي. په دغه برخه کې عامه پوهاوي ته بېخي ډېره اړتیا لیدل کېږي؛ تر څو وګړي په شعوري توګه پوه شي چې دا ملي شتمني بېځایه ضایع نه کړي. د اوبو په سپما او ساتنه کې د خلکو، حکومت او نړیوالو هڅې او نقش یو مثلث جوړوي، چې افراد یې په قاعده کې واقع کېږي. یعنې تر هر چا زموږ او ستاسو مسئولیت ډېر دی او دا موږ یو چې خپل ځان په خپله جوړولی او تباه کولی شو.

۲ـ کرنه کې د اوبو لګونه

د افغانستان ډېری وګړي پر کرنه بوخت دي او د خوړو اوبو تر ټولو ستر لګښت‌ځای کرونده ده. دا مسئولیت هم بېرته موږ ته راجع کېږي، چې د اوبو له سرچینو سره څنګه چلند کوو. بزګرانو ته په کار ده چې د اوبو په څېر سرچینه چې انساني ژوند پرې ولاړ دی او هر څه د اوبو په واسطه ژوندي دي، کارونه کې یې احتیاط وکړي. داسې ونې بوټي دې وکري، چــې د اوبو مصرف یې کم وي او په کمو اوبو حاصل ورکولی شـــي. همدا شان کله چې کرونده اوبېږي، باید د اوبو سرچینې بندې شي او پرېښودل شـــي، چې اضافي اوبه ضایع شي. په فردي توګه هر دهقان کولی شي، چې د خپلو کروندو لپاره داسې لارې چارې وسنجوي، چې اوبه په کې لږې وکارول شي. هر بزګر خپل لیدلوری او ابتکار لري، شاید یو له قطره یي سیستم او یو بل څوک له بل داسې سیستم څخه کار واخلي چې د اوبو سپما په کې شوني وي.

۳ـ عامه پوهاوی

دې برخـــه کې حکومتي هڅې هم ډېرې اغېزمنـــې دي؛ خو په فردي توګه هم موږ او تاسو خپل مسئولیت ترسره کولی شو. د بېلګې په ډول یو ملا امام د ممبر له لارې خلکو ته د اوبو د ارزښـــت او کارونې په تړاو سپارښتنې کولی شي. یو ډاکټر، لوستی، انجنیر، دقوم مخور، ژورنالېست له خپلې اغېزمنتیا او نفوذ نه په ګټه اخیســـتو د اوبو د کم لګښت عامه پوهاوی وړاندې کولی شي. باید یادونه وشي، چې لومړی باید دې همدا کسان په عمل کې د اوبو د کم لګښت لېوالتیا ولري او د «یو ته مسلې، خپله پرې حملې» توګه ونه شي.

۴- د شنو سیمو خوندیتوب

هر کس مســـئولیت لري چې په خپله شاوخوا کې له شنو سیمو او ونو ساتنه وکړي. همدا شـــنې سیمې دي، چې زموږ ژوند یې ممکن کړی دی، اکسیجن راکوي، د هوســـا ژوند زمینه راته برابروي او حاصل هم راکولی شي. بدبختانه په تېرو څلورو لسیزو کې په بېباکانه ډول ځنګلونه او شنې سمیې له منځه ولاړې او په سپېرو ډاګونو بدلې شوې. تر نن پورې ځنګلونه د سون د توکو لپاره وهل کېږي او یا هم په قاچاقي ډول ګاونډیو هېوادونو ته اړول کېږي. موږ ته په کار ده چې ونې او ځنګلونه په خپلسر ونه وهو. د حکومت اجازه باید ولرو او په بدل کې نورې ونې کېنوو.

ب: د حکومت مسئولیت

۱ـ د اوبو مدیریت

د چاپېریال ساتنې په برخه کې د حکومت مسئولیتونه ژور او ګڼ دي. د حکومت له ټولو ستر او لومړی مسئولیت د اوبو مدیریت او پانګونه ده. حکومتونه په خپلو انکشـــافي بودیجو کولی شي، چې د اوبو د مهار او مدیریت برخه کې خپله کارنده نقش ترسره کړي. د بېلګې په ډول د غرو په لمنو او غاړو کې د کندو اېستل، د ذخیروي بندونو جوړول، د کانالونو کښنه، د ژورو لښتیو اېستل، د استنادي دېوالونو جوړول او نور د حکومت مسئولیت ګرځي. همدا شان حکومتونه کولی شي، چې دې برخه کې نور بنســـټونه او سازمانونه ګډون او پانګونې ته را وبولي. د سربندونو او چکډېمونو له اوبو څخه نه یوازې برېښنا ترلاسه کولی شو، بلکې اوبه یې کروندو ته هم د ګټې اخیستو وړ دي.

۲ـ له عصري او ماډرنو لارو کرنه

حکومت ته په کار ده چې د اوبو سپما په پار د کرنې پر سکټور د پام وړ پانګونه وکړي. دې برخه کې له ګاونډیو او نورو حکومتونو د تجربو لاسته راوړل، د همکاریو ګڼ تړونونه لاسلیکول او نور شامل دي. عصري کرنه کولی شـــي، چې تر ۶۰-۷۰ سلنه د اوبو د ضیاع مخه ونیسي. نن سبا په ټوله نړۍ کې ځمکې په قطره یي سیستم اوبېږي چې بدبختانه لا هم زموږ په هېواد کې حتی یو کلی هم په ماډرنه کرنه ســـمبال نه دی او نه هم قطره یي سیستم ته چندان پاملرنه شوې ده. د کرنې سکټور په پښو درول اړیـــن دي، همدې برخه کې ډېرې اوبه په کې مصرفېږي. که مو کرنه عصري کړه، نو ډېرې اوبه به مو له بېځایه مصرف راګرځولي وي.

۳ـ ځنګل جوړونه

د ځنګلونو او ځړځایونو بیا احیا نه یوازې طبیعت او چاپېریال سمسوري؛ بلکـــې د اقلیم په رغونه کې د پـــام وړ رول لري. ځنګلونه همدارنګه د خاورو د تخریب مخه هم نیســـي، طبیعي پېښې، ســـېلابونو او نورو مخنیوی کوي. دغه راز که یاد ځنګلونه مېوه لرونکي وي؛ نو له مېوو یې هم ګټه اخیستل کېدای شي. سږ پسرلی د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت، کابل ښاروالي او د چاپېریال ساتنې ملي ادارو د هېواد په کچه به میلیونونه نیالګي کېنولي. کرنې وزارت همدارنګه ویلي چې تراوسه یې ۲۰ زره هکټاره ځمکه پر ځنګلونو پوښلې ده. ورته وخت کې د چاپېریال ســـاتنې ملي اداري سرپرست ویلي، چې په داسې یوه طرحه کار کوي چې له مخې به یې په راتلونکو ۷ کالونو کې ۲ سوه میلیونه نیالګي کېنوي او د هېواد ۱۰ سلنه ځمکه به زرغونه شي؛ خو له ټولو مهمه دا ده چې د دغو نیالګیو پالنه څنګه وشي؟ تېرو څو کلونو کې هر کال په پسرلي کې د نیالګیو د اېښودو کمپاین زور واخلي، خو بېرته سوړ شي او اېښودل شوي نیالګي بې اوبو وچ شي.

۴ـ د نوې کېدونکې انرژۍ کارونه

د کابل په ګډون ګڼ ښارونه د نوې کېدونکې انرژۍ د تولید وړتیا لري. د دې لپاره چې طبیعت ته مو کم ګواښ او تاوان پېښ کړی وي؛ په کار ده، چې نوې کېدونکې انرژۍ ته مخه کړو. افغانستان د لمریزه برېښنا د تولید برخه کې لوړه وړتیا لري. همدارنګه یو شمېر ولایتونه چټک بادونه، چې په اسانه ترې بادي برېښنا لاسته راوړلی شو. د نوې کېدونکې برېښنا له ټولو لویه ګټه همدا ده چې چاپېریال نه ککړوي او هم یې انرژي د بیا بیا نوي کېدو وړ ده.

۵ـ د نړیوالې همکارۍ جذب:

له اقلیم بدلون اغېزمن هېوادونه کولی شي، چې د نړۍ همکاري او مالي ملاتړ راجذب کړي. بدبختانه افغانستان ته دې برخه کې هېچا پاملرنه نه ده کړې او نه هم نړیوالو د افغانستان د اقلیم د زیان غرامت پرې کړی دی. نه یوازې دا چې افغانســـتان سره دې برخه کې مرسته نه ده شوې؛ بلکې افغان استازي د اقلیم بدلون په تړاو په نړیوالو غونډو کې له ګډون هم محروم دي. یو داسې هېواد چې د لویو قدرتونو پر مټ د اقلیم بدلون زیانویني، خو بېرته آن په نړیوالو غونډو کې هم د ګډون اجازه نه ورکول کېږي.

ج: نړۍ

موږ وړاندې وویل چې افغانستان د اقلیم په بدلون کې ونډه نه لري، خو له هر چا مخکې ډېر زیانمن شوی دی. د افغانستان د اقلیم د بدلون برخه کې د نړۍ مسئولیتونه او دندې څو اړخه لري.

۱ـ نړیواله همکاري او سیاسي ملاتړ:

نړیوالې ټولنې ته په کار ده، چې د اقلیم په تړاو جوړېدونکې هرې غونډې ته افغان اســـتازي ور وبولي او د یوه زیانمن هېواد په توګه ورته وګوري. یادې ټولنې ته بویـــه، چې د اقلیم بدلون موضوع سیاســـي نه کړي او افغانستان ته د یوه قرباني هېواد په توګه وګوري. نړۍ باید د پارس تړون په ګډون نورو هغو تړونونو ته ژمن پاتې شي، چې د اقلیم بدلون په تړاو لا هم د منلو وړ دي.

۲ـ مالي ملاتړ: لکه څنګه چې د اقلیم بدلون نړیواله مسئله او ربړه ده؛ نو نړۍ ته پکار ده، چې دې برخه کې د افغانسان مالي ملاتړ وکړي. نړیوال بانک، اقلیم بدلون مالي صندوق، پرمختیایي بانکونه او نور نړیوال سازمانونه باید د افغانستان لاسنیوی وکړي.

۳ـ ظرفیت لوړونه:

نړۍ مسئولیت لري چې د افغان کادرونو ظرفیت د اقلیم بدلون او نورو موضوعاتو په تړاو لوړ کړي؛ تر څو دلته د اقلیمي پېښو پر وړاندې پوهاوی لا زیات او د نورو مرګونو پېښـــو مخنیوی وشي. د بورسونو او زده کړو زمینه، علمي او څېړنیو کنفرانسونو کې ونډه او ټکنالوژیکه برخه کې یې د افغان ځوانانو په پښو درول د نړیوالو دنده ده.

پایله:

بدبختانه وروستیو ورښتونو یو ځل بیا ګنې کورنۍ د وېر پر ټغر کېنولې. دغو پېښو وښودله چې افغانستان باید نور د اقلیم بدلون موضوع جدي وګڼـــي او د اوبو مدیریت په برخه کې له هر څه ډېر کار وشـــي. د اوبو مدیریت، سپما او د اقلیم رغونه د یوه مثلث په څېر د خلکو، حکومت او نـــړۍ ګډه دنده ده. دې موضوع کـــې هر لوری خپل ځانګړی نقش لري. د پاریس د تړون له مخې د اقلیمي بدلون په تړاو ټول ګډ مسئولیت لري؛ خو بدبختانه له افغانســـتان سره لا هم سیاسي چلند کېږي او له دې حق محرومېږي. نړۍ باید د افغانســـتان دې حق ته لبیک ووایي او غرامت ته غاړه کېږدي. نړیواله ټولنه نه یوازې باید دې حق ته غاړه کېږدي، د افغانستان مالي، تخنیکي او اکاډمیک ملاتړ وکړي. د اقلیم بدلون برخه کې شوي کارونه هم یوازې نمایشي دي او په رښتیني مانا ګامونه لا نه دي اخیستل شوي. افغان حکومت د اوبو د مدیریت او چاپېریال ساتنې برخه کې ځانګړې هڅې کړې. د اســـلامي امارت زعیم د هېواد ټولو ولســـوالیو ته د یو یو چکډېم جوړول منظور کړي؛ خو دا ګامونه لا ډېر چټکول غواړي.

د عدالت شعار خو دوه ګونی ...

ویاند ذبیح الله مجاهد د محکمې دغې پرېکړې ته په غبرګون کې ویلي: «ستاسې دا ډول اعلامیې، اوتې بوټې دي، چې د اسلامي امارت پر کلک هوډ او شرعي دریځ هېڅ اغېز نه شي کولی».

د مولوي مجاهد پر وینا، د نړیوالې جنایي محکمې په نوم هېڅ کوم بنسټ نه پېژني او نه یې پر وړاندې ځان مکلف ګڼي. هغه د اسلامي شریعت قوانینو ته د بشر خلاف د ظلم نسبت کول او د دغو قوانینو د پلي کوونکو د نیولو خبرداری له اسلام سره «ښکاره دښمني او کرکه» یاده کړې او په خبره یې دا د مسلمانانو معتقداتو ته سپکاوی بلل کېږي. مجاهد دغه راز زیاته کړې: «داسې مهال چې غزه کې د اسرائیل صهیونیسټ رژیم او د بهرنیو ملاتړو له لوري یې د جرمونو نړیوالې محکمې تر سترګو لاندې نسل وژنه روانه ده او هره ورځ سلګونه ښځې او ماشومان له کوم دلیل پرته وژل کېږي، د بشري حقونو او نړیوالې محکمې شعارونه د شرم خبره ده». عام خلک او سیاسي مبصرین هم په دې نیوکه کوي، چې د هغو هېوادونو مشران چې په عراق، سوریه، فلسطین او افغانستان کې یې زرګونه انسانان وژلي او ګڼې ویجاړۍ یې رامنځ ته کړې هېڅکله محاکمه نه شول. منتقدین وایي، چې د بهرنیو ځواکونو له لوري په افغانستان کې زرګونه بې ګناه خلک ووژل شول، کورونه ویجاړ شول او زندانونه د شکنجو پر مرکزونو بدل شول، نړیواله محکمه چو په خوله وه خو اوس چې یو خپلواک اسلامي نظام جوړ شوی، پر ضد یې د عدالت په نوم مغرضانه پرېکړې صادرېږي. د دوی په خبره، دا د یوې سیاسي اجنډا برخه ده، نه د قانون او عدالت غوښتنه. د نور ولي خان په نوم یو کس د نړیوالې جنایي محکمې د پرېکړې په غبرګون کې ویلي: «د نړیوالې جنایي محکمې بنسټ که زور او اختیار لري، نو له ټولو مخکښې دې د اسرائیلو جنایتکار نتنیاهو محکمې ته راکش کړي او بیا هغه اشغالګر قوتونه چې شل کاله یې بې ګناه افغانان له قصده شهیدان کړل». فضل رحیم فضلي هم د بشر حقونو او عدالت لپاره جوړ شوي نړیوال بنسټونه د زورورو د سیاسي تبلیغاتو دستګاوې بولي. هغه ویلي: «نړۍ کې اوس د بشر حقوق، عدالت او جنایت په نامه څوک څه نه پېژني، هر زورور په حقه او هر کمزوری ملامت دی، رښتیا هم د دې محکمې خبرې او فیصلې خوشې اوتې بوټې دي، هېڅ هېواد هم ورته التزام نه لري». د اصف شینواري په نوم بل معترض ویلي: «ډېر روند قضاوت یې کړی دغزې د قتل عام مخور سپینې او خلاصې تنۍ ګرځي او هغه چې افغانان یې سره راټول کړل امنیت یې راوست محاکمه کېږي». عزیز الله د نړیوالې محکمې پرېکړې بې اغېزې بولي او وایي چې هېڅوک ورته التزام نه لري: «د جرمونو نړیوالې محکمې خو د اسرائیلو د لومړي وزیر بنیامین نتنیاهو د نیولو امر هم کړی و، خو کال پوره کېږي، چې و نه نیول شو هسې یوه نمایشي محکمه ده نه حقیقي». د یادونې وړ ده چې په تېرو څو لسیزو کې د اسرائیلي ځواکونو له لوري په فلسطین کې د ښځو او ماشومانو په ګډون د ملکي خلکو ټول وژنه کېږي او پر ژوندیو یې اقتصادي کلابندي، چې د بشر له حقونو څرګنده سرغړونه ګڼل کېږي، روانه ده. سره له دې چې دا ټول جنایتونه د نړیوالې ټولنې او نړیوالو رسنیو سره خوندي دي، خو نړیوالې جنایي محکمې یې بیا هم پر وړاندې ښکاره او ملموس ګام نه دی پورته کړی او نه یې د قربانیانو د حقونو لپاره کوم عدالت تأمین شو. دغه راز په افغانستان کې د امریکایي او ناټو ځواکونو له لوري د ملکي وګړو وژنه، د بګرام او ګوانتانامو په څېر زندانونو کې شکنجه، او د اسلامي ارزښتونو سپکاوی هغه جنایتونه دي، چې اسناد یې د نړیوالو رسنیو او په نوم حقپالو سازمانونو له لوري ثبت شوي خو نړیوالې جنایي محکمې د دغو جنایتونو په تړاو هېڅ امریکایي چارواکی نه دی محاکمه کړی. برعکس، کله چې د دغو جرمونو د څېړنې هڅه شوې، امریکا د محکمې پر قاضیانو بندیزونه لګولي دي. دغه دوه ګونې چلند که له یوې خوا د محکمې قانوني حیثیت له منځه وړی، بل خوا دا پوښتنه ځوابوي، چې یاده شوې محکمه رښتیا هم د عدالت نړیواله مرجع ده، که د زورواکو د سیاسي حربې یوه بله وسیله؟

نذیرمنیب

د ټولګټو چارو وزارت یو پلاوی ...

پر ودې، د رېل پټلۍ له لارې د انتقالاتو د پراختیا، تخنیکي نوښتونو، ظرفیت‌لوړونې، د نویو پانګوالو د جذب او د لوړ سرعت لرونکو رېل پټلیو د اوسنیو پرمختګونو ارزونه وکړي.

په خبرپاڼه کې دا هم ویل شوي: «ګډونوال به د رېل پټلۍ په برخه کې وروستۍ پرمختللي ټکنالوژۍ ننداري ته وړاندې کړي او د راتلونکي لپاره به یو روښانه انځور چمتو کړي.»

د ټولګټو چارو وزارت دا لویه غونډه د سیمې او نړۍ د رېل پټلۍ د لوړپوړو مسئولینو ترمنځ د خبرو او نظرونو د تبادلې ګټور پلټفورم بللی، چې د رېل پټلۍ پر پرمختګ به مثبت اغېز ولري. د ویلو ده، چې افغانســـتان د ۲۰۱۳ م کال د ډسمبر په ۱۲ مه د وسپنې پټلۍ د نړیوالې ټولنې غړیتوب ترلاسه کړی دی.

په اسلام‌کلا بندر کې د راستنېدونکو ...

چې د همدې ګډو هڅو په پایله کې د کډوالو د خدمت چارې په منظم او منســـجمه توګـــه پرمخ روانې دي. مولوي آخوندزاده ډاډ ورکړی، چې د کډوالو د شـــمېر ډېرېدو پر مهال چمتو دي، چې خدمتونه لا پراخه کړي او د اړتیا وړ اســـانتیاوې زیاتې کړي. بل‌لور، یو شمېر راستنېدونکو کډوالو هم د خپلو څرګندونو پر مهال د اسلامي امارت له لوري د ترسره شـــویو اقداماتو قدرداني کړې او زیاته کړې یې ده، چې د اسلام‌کلا بندر ته تر رسېدو وروسته، له هېڅ ډول ستونزې سره نه دي مخ شوي او د لېږد بهیر یې هم په ښه منظمه توګه ترسره کېږي.

سرپرست وزارت صحت عامه خواهان ...

نیازمندی است. مولوی نورجلال جلالی به مسؤلان شفاخانه‌های خصوصی هشدار داد که طبابت را به وســـیله تجارت مبدل نکنند زیرا بـــا این عمل آنان برخورد جدی خواهد شد. گفتنی اســـت که وزارت صحت عامه پس از حاکمیت امارت اسلامی افغانستان، معیاری‌سازی عرضه خدمات صحی، افزایش ظرفیت کادرهای درمانی و گسترش عرضه خدمات صحی به دورترین نقاط کشور را در اولویت خویش قرار داده است.

فراخوان کمک کمیسیون رسیدگی ...

به محلات اصلی‌شـــان در ولایت‌های مختلف بگونه رایگان انتقال دهد. این تاجر ملی کشـــور تاکید می‌کند که اکنون زمان کمک فرا رسیده و همه باید برای کمک و حمایت از مهاجرین دســـت به کار شـــوند. پیش از این کمیسیون عالی رسیدگی به مشکلات مهاجرین فراخوان کمک به مهاجرین توسط بنیادهای خیریه و تاجران ملی کشور را داده بود. این کمیسیون گفته بود که با توجه به افزایش تعداد برگشت‌کنندگان در روز، نیاز است تا تاجران و بنیادهای خیریه نیز در رسیدگی به مشکلات مهاجرین همکار شوند. این در حالی است که تاجران و افراد خیر از ولایت‌های مختلف به‌شمول هرات در فراهم‌سازی غذا به مهاجرین و انتقال آنان به محلات اصلی‌شان همکاری دارند.

د شپږیزې لیګ لوبلړۍ او لوبغاړي ...

بست ســـاتونکي د ابراهیم ځدراڼ په لوبډلمشرۍ کې محمداکرم، نویدعبیت، بلال ترین، تجیب الله ځدراڼ، الله نور ناصري، شوکت زمان، مبین بختیار، حاجي مراد مرادي، طارق ستانکزی، کریم جنت، نور احمد لکنوال، عرب ګل مومند، عظیم ځدراڼ، یما عرب، عبدالرحمن رحماني، بشـــیر احمد او عبدالله تره‌خېل لري. بند امیر ښـــارماران د حشمت الله شاهدي په لوبډلمشرۍ کې صدیق اتل، هارون خان، صدیق الله پاچا، درویش رسولي، اصف موسی‌زی، اصف شاه، محمد شېرزاد، عبدالهادي، ګلبدین نایب، ننګیال خروټی، الله محمد غضنفر، اظهارالحق نوید، شمس کمال، نجات مسعود، سلیم صافی، خلیل احمد او لعل باز لري. امو نهنګان د عظمت الله عمرزي په لوبډلمشرۍ کې عبدالمالک، عمران میر، حسن عیسی خیل، شاهد الله کمال، اعجاز مهدي، سمیع الله شینواری، اسحاق رحیمي، نورالرحمن، شرف الدین اشرف، قیس احمد، بابر خان، محمد الله لوګري، فضل الحق فاروقي، یمین احمدزی، محمد ګل، افتاب علم او عبدالله احمدزی. د یادونې وړ ده، چې دغه لوبې د کابل کرېکټ لوبغالي کې د افغانستان کرېکټ بورډ په خپله ترسره کوي (کوم بل شرکت ته یې نه دي ورکړي)، چې په ۱۵ کامرو به په ژوندۍ بڼه هم خپرېږي.

تاج محمد بهار

د ملګرو ملتونو مغرضانه او دوه ...

اصولو سره په ټکر کې دي. اسلامي امارت، چې د امیرالمؤمنین «حفظه‌الله» په رهبرۍ سره افغانستان له اشغال خلاص او د داخلي جګړو اور یې مړ کړ، اوس له نړیوالو هم دا تمه لري، چې د افغان ولس ارادې ته درناوی وکړي او د تعامل او تفاهم پر اساس اړیکې وساتي. د افغانستان اسلامي امارت یو ځل بیا نړۍ ته دا څرګند پیغام ورکوي، چې موږ تعامل او سوله غواړو، خو داسې تعامل او سوله، چې د ملي عزت، اسلامي ارزښتونو او خپلواک دریځ پر بنسټ ولاړه وي. افغان مجاهد ملت نه د چا د زور ژبه مني او نه د سیاسي فشارونو قرباني کېږي، ځکه چې د دې ملت په زړه کې د الله، خپلواکۍ او عزت مینه تلپاتې ده.

افغان اعلانات

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم غورځنګ رفیقی فرزند رفیق الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۵٤۹

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نیلاب عظیمی بنت سید شفیق الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۵۷۰

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نور علی اتمانزی فرزند لطیف مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد. ۵۷۷

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم قدرت الله افغان فرزند گل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۵۶۷

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم علی بابا سلطانی فرزند ذکریا مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۵۶۸

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم فرید احمد محمدی فرزند میر احمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۵۶۹

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نعمت الله نصیری فرزند قادر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد. ۵۷۲

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محب الله غفوری فرزند عبدالستار مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۸۳۹

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم شبانه بهرامی بنت احمد علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۵۶۵

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم اسلم خان اریوبی فرزند حیات میر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۵۶۶

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم ام البنین یوسفی بنت محمد ابراهیم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۶۲۹

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم شجاع الدین رسولی فرزند غلام محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۵۶۲

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم فاطمه حسینی بنت سید رضا شاه مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۵۶۳

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم ایوب ایوبی فرزند جلات خان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۲۰

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم صبغت الله سعیدی فرزند محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۲۱

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالحمید قربانی فرزند محمد نصیر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۲۲

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم احمد منصور کریمی فرزند محمد نعیم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۲۳

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم ضیاء الحق فیضی فرزند خالمراد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۲۵

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سمیه سلطانی فرزند جاوید مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۶۴۸

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به حکیم الله خسروی فرزند عبدالودود مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۰۰۳

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم امیر حمزه فرزند جمعه خان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۵۰۸

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالجمیل بهادری فرزند عبدالبصیر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۵۰۷

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم بی بی جان بنت سید محسن مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۵۰۶

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم بلال جیلانی فرزند خیبر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۱۵

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم زحل پاینده بنت احمد حامد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۶۴۶

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد الف محمدی فرزند احمد شاه مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۵۴۱

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم احد الله فرزند خداینظر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۵۴۲

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبداللطیف رضایی فرزند نثار علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۵۴۳

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم حبیب الله شینواری فرزند سلیم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۵۳۵

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم اسحق حسینی فرزند محمد حسین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۵۳۶

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد صدیق محمدی فرزند عبدالحسن مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۵۳۷

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم شمین الله عرفانی فرزند نور محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۵۳۲

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سلطان احمدزی فرزند شماس مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۵۳۳

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم توفیق علی محسنی فرزند صادق علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۵۳۴

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد اکبر داراب فرزند محمد عالم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۵۲۵

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سید رحیم تیموری فرزند سید سرور مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۵۲۹

اطلاعیه مفقودی
یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد راشد کوهدامنی فرزند تاج محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۵۳۰

اطلاعیه لیلام
موسسه حمایه اطفال یک تعداد وسایل غیر قابل استفاده خود را از قبیل کامپیوتر های لپ تاپ، پرنتر ، جنراتور ، اسکنر، تلویزیون، کمره های عکاسی ،و غیره را از طریق داوطلبی به فروش می رساند. اشخاص که خواهان اشتراک در این داوطلبی را داشته باشند میتوانند به تاریخ ۲۹/سرطان/ ۱۴۰۴ ساعت ۹ قبل از ظهر به گدام این موسسه واقع سرک نو دسپیچری مراجعه نمایند.

جهت معلومات مزیده به شماره تماس : ۰۷۲۸۹۷۲۹۱۸ به تماس شوند. ۲۷۰

اطلاعیه فسخ جواز رهنمای معاملات
اسامی محترم محمد ایوب فرزند یعقوب ولدیت یوسف علی دارنده جواز نمبر (۳۱۶۸) مورخ ۱۴۰۲/۱۰/۵ متصدی رهنمای معاملات (حسینی) واقع (قلعه نو دشت برچی) ناحیه (۱۳) شاروالی کابل خواهان فسخ جواز خویش گردیده که بعد از نشر اعلان رهنمای مذکور فاقد اعتبار قانونی بوده هر گاه ادارات دولتی و اشخاص انفرادی بالای موصوف ادعای حقوقی به ارتباط فعالیت جواز مذکور داشته باشند بعد از نشر اعلان الی مدت یک هفته به ریاست عمومی انسجام ، وزارت عدلیه اطلاع دهند. ۲۴۰

اطلاعیه فروش موتر
اسامی محترم شرکت روز به سازان لمتید یک عراده موتر پلیت ۱۵۸۸۹- ۲ ش کابل نوع تیوتا کرولا غرفه دار خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای شیرین آغا فرزند خان آغا بفروش رسانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۲۴۱

اطلاعیه تصمیم اعطای قرار داد
وزارت عدلیه در نظر دارد تدارک پروژه ۱۰۶ قلم قرطاسیه باب مطبوع مورد ضرورت خویش را با شرکت خدمات لوژستیکی حنظله هلال دارند جواز نمبر (۸۰۹۸۴) آدرس مرکز میدان شهر، وردک با قیمت مجموعی مبلغ (۲،۶۹۴،۵۰۹) دو میلیون و شش صدو نود و چهار هزار و پنج صدو نه افغانی اعطاء نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هر گونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۷ روز تقویمی طور کتبی با دلایل آن به وزارت عدلیه ، آمریت تدارکات واقع دارالامان ارائه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرار داد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی ،قرار داد منعقد نخواهد شد.۲۵۳

اطلاعیه دعوت به داوطلبی
وزارت عدلیه از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی پروژه تدارک اعمار تعمیر ورکشاپ تخنیکی کامپلکس اداری وزارت عدلیه اشتراک نموده و نقل شرطنامه را در بدل (۱۰۰۰) افغانی از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۲۱ روز تقویمی از مدیریت تدارکات امور ساختمانی ، آمریت تدارکات بدست آورند، جلسه آفرگشایی پروژه متذکره به ساعت ۱۰:۳۰ بجه قبل از ظهر به روز چهار شنبه مورخ ۱۴۰۴/۵/۸ در منزل دوم، دست چپ اتاق نمبر (۲۱۱) آمریت تدارکات ، وزارت عدلیه برگزار میگردد.

تضمین آفر به مبلغ (۱،۰۰۰،۰۰۰) یک میلیون افغانی تضمین بانکی و یا پول نقد از نزد داوطلب اخذ میگردد، آفرهای نا وقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی باشد.۲۵۴

موضوع : اعلان تصمیم اعطای قرارداد پروژه تهیه و تدارک زیر بنای کلود(شبکه سن) لات سوم
بدین وسیله به تاسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشود , وزارت مخابرات وتکنالوژی معلوماتی پروژه تهیه و تدارک زیر بنای کلود(شبکه سن) لات سوم را به شرکت خدمات لوژستیکی کوبل واقع سرک ٤, محله ۱٦, نود آباد, قلعه زمان خان , مرکز کابل به مبلغ مجموعی بیست و یک میلیون و پنجصدو چهل و پنج هزارو پنجصدو پنجاه (۲۱,٥٤٥,٥٥۰) افغانی اعطاء می نماید. اشخاص حقیقی وحکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند , می تواند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توام با دلایل آن به ریاست تدارکات واقع منزل چهاردهم تعمیر -۱۸- منزله وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارایه نمایند. این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده والی تکمیل میعاد فوق الذکر وطی مراحل قانونی بعدی , قرارداد منعقد نخواهد شد.۳۲۴

اعلان اجاره دهی
وزارت آب و انرژی در نظر دارد، اجاره دهی موازی (۲۰) جریب زمین بستر و حریم دریا پائین پل کلان شهر تالقان ولایت تخار از طریق پروسه مزایده به اجاره بدهد.

در صورتیکه اشخاص، و شرکت های واجد شرایط خواهش به اجاره گیری موازی (۲۰) جریب زمین فوق الذکر را داشته باشند در خواستی های خویش را به آمریت تدارکات اجناس و خدمات غیر مشورتی ریاست تدارکات واقع تعمیر (۵) ریاست تدارکات بعد از نشر اعلان الی مدت(۲۵) روز تقویمی سپرده و شرطنامه شان را اخذ نماید. جلسه مزایده بتاریخ ۱٤۰٤/٥/۱۲ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر در وزارت آب و انرژی به شماره مزایده MEW/PD/NCs03 -1404/NCB تدویر میگردد و تضمین آفر را بشکل تضمین بانکی مبلغ (۱۲٥۰۰۰) یکصد و بیست و پنج هزارافغانی ارائه دارند.

اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد
بدینوسیله به تأسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانده می شود که د آریانا افغان هوائی شرکت در نظر دارد پروژه تدارک ٦۲ قلم مواد اعاشوی مورد ضرورت مدیریت فلایت کیچن د آریانا افغان هوائی شرکت دارای شماره تشخیصیه AAA/PD/NCB/G/1404/ 000 به مبلغ مجموعی ۲۷٤۲۷٤۷٥٫٦٤ افغانی را به شرکت امیررایان امپکس لیمیتد دارنده جواز ٦٦۷۹٥ کابل - افغانستان، اعطا نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن به آمریت عمومی تدارکات ، د آریانا افغان هوائی شرکت واقع چهارراهی شهید، شهرنو، کابل وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارائه نمایند.
این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد
بدینوسیله به تأسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می شود که د آریانا افغان هوائی شرکت در نظر دارد پروژه تدارک گوشت سرخی گوساله و گوشت گوسفند ران کفت مورد ضرورت مدیریت فلایت کیچن د آریانا افغان هوائی شرکت دارای شماره تشخیصیهAAA/PD/NCB/G/1404/ 000 به مبلغ مجموعی ۳۰٦۱۹٥۰۰ افغانی را به شرکت تجارتی الهام گروپ لمتید دارنده جواز 15699-0101 کابل - افغانستان، اعطاء نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن به آمریت عمومی تدارکات ، د آریانا افغان هوائی شرکت واقع چهار راهی شهید، شهرنو، کابل وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارائه نمایند.
این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

اطلاعیه تصمیم اعطای قرار داد
بدینوسیله به تأسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می شود، آمریت تدارکات وزارت امور شهداء و معلولین در نظر دارد، قرارداد خدمات تخلیه چاه فاضلآب و انتقال زباله های مرکز و بخش های مربوط-وزارت امور شهداء و معلولین بابت سال مالی ۱٤۰٤ تحت نمبر تشخیصیه MOMDA/1404/NCB/NC-1502 را به شرکت خدمات لوژستیکی افغان کابل نیازی لمیتد دارنده جواز نمبر(۶۶۵-۰۱۰۲) محل اصلی پروان سوم، مرکز کابل، کابل به قیمت مجموعی حد اقل (٤۷۱۸٤۰) چهار صد و هفتاد و یک هزار و هشتصد و چهل افغانی قیمت مجموعی حد اکثر (٥۲۲۲۰۰) پنج صد و بیست و دو هزار و دو صد افغانی اعطاء نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن به آمریت تدارکات وزارت امور شهداء و معلولین واقع {سرک عمومی میدان هوائی کابل، ایستگاه قلعه خیاط} وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارائه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

«اعلان دعوت به ابراز علاقمندی»
شماره دعوت به داوطلبیMAIL/1404/ NCB/CS-1695

وزارت زراعت، آبیاری و مالداری از تمام دواطلبان و شرکت های مشاور واجد شرایط دعوت مینماید تا در پروسه درخواست ابراز علاقمندی پروژه مطالعات امکان سنجی غرض احداث ۷ باب فارم معیاری گاوهای شیری در هفت ولایت کشور مورد ضرورت این اداره طبق لایحه وظایف پروژه متذکره اشتراک نموده و سند درخواست ابراز علاقمندی (REOI) را از آمریت تدارکات خدمات مشورتی در حافظه یا فلش دسک بدست آورده، ابراز علاقمندی (EOI) خویش را مطابق شرایط مندرج درخواست برای ابراز علاقمندی و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سربسته از تاریخ نشر اعلان الی ۰۵ اسد ۱٤۰٤ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر به تعمیر اسبق معینیت مالی و اداری، منزل اول امریت خدمات مشورتی تسلیم نماید. (EOI) های ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمیباشد.

«دعوت به داوطلبی روش باز داخلی»
شماره دعوت به داوطلبیMAIL/1404/NCB/W-1802

ریاست تهیه و تدارکات وزارت زراعت ، آبیاری و مالداری از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در پروسه داوطلبی پروژه تدارک و نصب سیستم آبیاری قطره یی برای باغات مثمر به دهاقین ۱۵۸ جریب زمین در ولایت فاریاب اشتراک نموده و شرطنامه مربوطه را در فلش دسک (حافظه) بطور رایگان از آمریت تدارکات امور ساختمانی ویا از ویب سایت اداره تدارکات ملی www.npa.gov.af دانلود نموده، آفر های خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سربسته از تاریخ نشر اعلان الی ۱٤۰٤/۰٥/۱۲ ساعت ۲:۰۰ بعد از ظهر به آمریت تدارکات امور ساختمانی منزل اول تعمیر اسبق معینیت مالی و اداری، وزارت زراعت، آبیاری ومالداری ریاست تهیه وتدارکات، ارایه نمایند. آفر های ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمیباشد.

تضمین آفر بصورت تضمین خط بانکی مبلغ ۲۳۷,۰۰۰,۰۰ دوصد و سی و هفت هزار افغانی بوده و جلسه آفرگشائی بتاریخ معینه ساعت ۲:۰۰ بعد از ظهر در اتاق جلسات تدویر میگردد.

موضوع: اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد
بدینوسیله به تأسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشود، وزارت معارف در نظردارد تا قرارداد پروژه تهیه و خریداری ۴۷۵ قلم پرزه جات و رنگ باب وسایط مختلف النوع مورد ضرورت ریاست خدمات وزارت معارف بابت سال مالی ۱۴۰۴.را با شرکت محترم حاجی احمدالله نوری لمیتد واقع هرات دروازه دوکان نمبر ۲۵ ، مرکز کندهار، افغانستان به قیمت مجموعی مبلغ ٥,۳٥۲,۱٦۷ پنج میلیون و سه صد و پنجاه و دو هزار و یکصد و شصت و هفت افغانی برای حد اقل و مبلغ ٦,۸۹۱,۸۷۰ شش میلیون هشتصد و نود و یک هزار و هشتصد و هفتاد افغانی برای حد اکثر اعطاْ نماید.

اشخاص حقیقی وحکمی که هر گونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن به ریاست تدارکات واقع محمد جان خان وات، ده افغانان، کابل، افغانستان وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارایه نمایند. این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده والی تکمیل میعاد فوق الذکر وطی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

« دعوت به داوطلبی روش باز داخلی»
شماره دعوت به داوطلبی MAIL/1404/NCB/W-1754

ریاست تهیه و تدارکات وزارت زراعت ، آبیاری و مالداری از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در پروسه داوطلبی (پروژه اعماردیوار احاطه به طول ۲۹۰ متر واقع فارم بینی حصار ولایت کابل) ، اشتراک نموده و شرطنامه مربوطه را در فلش دسک (حافظه) بطور رایگان از آمریت تدارکات امور ساختمانی ویا از ویب سایت اداره تدارکات ملی www.npa.gov.af دانلود نموده، آفر های خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سربسته از تاریخ نشر اعلان الی ۱۲ اسد سال ۱٤۰٤ ساعت ۱۰:۰۰ بجه قبل از ظهر به منزل دوم تعمیر اسبق معینیت مالی و اداری دفتر جلسات ریاست تهیه وتدارکات ، ارایه نمایند. آفر های ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمیباشد.

تضمین آفر بصورت تضمین خط بانکی مبلغ ۷۹۰۰۰هفتاد و نه هزار افغانی به صورت ضمانت بانکی افغانی بوده وجلسه آفرگشائی بتاریخ معینه ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر در اتاق جلسات آفرگشائی ریاست تهیه و تدارکات تدویر میگردد.

اطلاعیه داوطلبی
وزارت معادن و پترولیم ساحات معدنکاری ذیل را جهت عقد قرارداد معدنکاری به مقیاس بزرگ به داوطلبی می سپارد، داوطلبان اعم از داخلی و خارجی می توانند جهت اشتراک در پروسهٔ اداوطلبی اظهارنامه علاقمندی و پرسشنامهٔ ارزیابی قبلی اهلیت را از ویب سایت (Ismmd.momp.gov.af) و یا از ریاست تنظیم امور معادن بزرگ، وزارت معادن و پترولیم، واقع چهارراهی مکروریان کابل- افغانستان دریافت نموده و بعد از خانه پری الی تاریخ ۱۵ اسد ۱٤۰٤ به آمریت ارزیابی داوطلبی، ریاست تنظیم امور معادن بزرگ تسلیم نمایند.

مشخصات ساحات معدنکاری					
شماره	اسم پروژها	ولسوالی	ولایات	نواع مواد	مساحات به کیلومتر مربع
۱	ساحه شمال زیارت کان	دولت آباد	فاریاب	نمک	۱٫۴۰۱۵۸
۲	کان زیارت	دولت اباد	فاریاب	نمک	۳٫۰۸۷۵
۳	ساحه غربی میمنه کان	دولت آباد	فاریاب	نمک	۱٫۹۸۹۱۷

Shariat

Published by

Islamic Emirate of Afghanistan

Eng, Uzair Baryaly ، Director of Gov.dailies

0202526340

Chief Editor : M. Munir Farooqi

Email: info@shariatdaily.com

WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

شريعت

د دولتي ورځپاڼو رئیس:

انجنیر عُزیر بریالی / ۰۲۰۲۵۲٦۳٤۰

مسئول مدیر: محمد منیر فاروقي / ۰۷٦٤۸۰۸۲۰۵

مسئول سکرتر: خالد افغان/ ۰۷۷۳۰٦۲۸۳۲

د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com

پته: اتمه ناحیه، د المپیک څلورلارې، د حضوري چمن ختیځ

کابل ـ افغانستان

شماره توزیع و شکایات: ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷٦٦۰٤٤۹٦٦/ ۰۷۳۱٦۰٦۰۷۳

Thursday 10 July 2025 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 799

مسکو کې له مېشتو افغانانو سره د اسلامي امارت د نوي سفير ليدنه

په مسکو کې د افغانستان اسلامي امارت سفیر مولوي ګل حسن حسن، په کوربه هېواد روسیه کې له مېشتو افغانانو سره د پېژندنې غونډه کړې ده.

په روسیه کې د افغانستان سفارت ویلي، ښاغلي حسن په دې غونډه کې د روسیې وروستی دریځ ستایلی او هیله یې ښودلې، چې د اسلامي امارت د رسمیت پېژندنې په برخه کې دا ګام به د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړیکو د پیاوړتیا سبب شي.

مولوي ګل حسن حسن ډاډ ورکړی، چې له خپل ټیم سره به په ګډه هڅه کوي، څو په روسیه کې مېشتو افغانانو ته اغېزمن خدمتونه وړاندې کړي او د دوی ستونزو ته پر وخت رسېدنه وشي. سرچینه زیاتوي، په غونډه کې د ګډونوالو په استازولۍ قومي مشرانو او محصلینو هم د روسیې د دریځ هرکلی کړی او تمه یې ښودلې، چې دا اقدام به د دواړو هېوادونو د اړیکو تر څنګ، د افغان کډوالو ستونزو ته د حل زمینه هم برابره کړي.

فراخوان کمک کمیسیون رسیدگی به مشکلات مهاجرین

به‌دنبال فراخوان کمک بنیادهای خیریه و تاجران ملی از سوی کمیسیون عالی رسیدگی به مشکلات مهاجرین، بنیاد بیات، طرح ۱۰ روزه همکاری را ارائیه کرده است. احسان‌الله بیات، رییس بنیاد بیات با سفر به گذرگاه اسلام‌قلعه در ولا یت هرات، از این طرح خبر داده است. به گفته بیات؛ بنیاد بیات در چارچوب این طرح ۱۰ روزه حاضر است که علاوه از فراهم کردن غذا و موارد اولیه برای مهاجرین برگشته افغان، آنان را از اسلام‌قلعه ...

ص٦

د ټولګټو چارو وزارت يو پلاوی د وسپني پټلۍ په نړيواله غونډه کې ګډون کوي

د ټولګټو چارو وزارت خبر ورکړی، چې د یاد وزارت د وسپنیزې کرښې مرستیال، مولوي محمد اسحاق صاحبزاده د وسپنې پټلۍ په نړیواله غونډه کې د ګډون په موخه چین ته تللی دی. ویل کېږي، د چین په کوربه‌توب دا غونډه د بېلابېلو هېوادونو د ۳ زره استازو په ګډون ترسره کېږي، چې د دې برخې اړوند به په کې پر بېلابېلو مسایلو خبرې وشي. د ټولګټو چارو وزارت د خبرپاڼې له مخې د دې غونډې ګډونوال به په نړیواله کچه د وسپنې پټلۍ د صنعت ...

٦ مخ

کار ساخت یک سربند در لوگر آغاز شد

وزارت آب و انرژی اعلام کرده که کار ساخت یک سربند به هزینه ۱۴۳ هزار دالر امریکایی معادل ۹ میلیون ۸۹۲ هزار افغانی در مربوطات ولا یت لوگر آغاز شده است. به گفته وزارت آب و انرژی، کار ساخت سربند «کهشان» در مربوطات ولسوالی چرخ ولا یت لوگر در حضورداشت ملا محمد اسماعیل آخندزاده، معاون والی این ولا یت و شماری از مسئولان محلی آغاز شده است. هزینه ساخت سربند یادشده از سوی سازمان غذا و کشاورزی سازمان ملل متحد پرداخت می‌شود. با تکمیل کار پروژه متذکره زمینه آبیاری صدها جریب زمین زراعتی در ولسوالی چرخ ولا یت لوگر فراهم خواهد شد. علاوه بر این، گفته شده که در جریان تطبیق پروژه سربند کهشان، برای ده‌ها باشنده ولسوالی چرخ، زمینه کار نیز فراهم می‌شود.

اعمار بندها و سربندها به‌عنوان منابع اصلی مدیریت آب‌های کشور از اولویت نهادهای امارتی بخصوص وزارت آب و انرژی به شمار می‌رود.

آغاز کار ۱۱ پروژه در سمنگان

وزارت حیاء و انکشاف دهات می‌گوید، کار ۱۱ پروژه انکشافی به هزینه یازده میلیون افغانی در مربوطات ولا یت سمنگان آغاز شده است.

به گفته وزارت احیاء و انکشاف دهات، ترمیم و جغل اندازی ۶.۷ کیلومتر سرک روستایی، ساخت ۱۸ متر دیوار استنادی، اعمار چهار چکدم، احداث ۱۸۸ متر کانال آبیاری و ترمیم یک شبکه آبرسانی شامل پروژه‌های یاشده است.

در خبرنامه آمده که این پروژه‌ها در مربوطات ولسوالی حضرت سلطان ولا یت سمنگان تطبیق می‌شود.

با تکمیل کار این پروژه‌ها برخی از مشکلات محیطی باشندگان ولسوالی متذکره حل خواهد شد.

مسئولان محلی ولا یت سمنگان گفته‌اند که هزینه این پروژه‌ها از سوی کشور ناروی پرداخت و توسط موسسه اکتید، عملی می‌شود.

این در حالی است که وزارت احیاء و انکشاف دهات از آغاز کار احداث ۳۶۳ متر سرک روستایی در قریه «کجکان» ولسوالی شینواری ولا یت پروان به هزینه ۱.۴ میلیون افغانی نیز خبر داده است.

له ایرانه راستنو کډوالو ته تر ۱۲۰ زرو ډېر سیمکارټونه وېشل شوي

په تېرو ۱۹ ورځو کې د هرات ولا یت په اسلام‌کلا کمپ کې له ایرانه افغانستان ته راستنېدونکو هېوادوالو ته د مخابراتي ستونزو د حل په موخه تر دې مهاله ۱۲۰ زره وړیا سیمکارټونه وېشل شوي دي.

د مخابراتو او معلوماتي ټیکنالوژۍ وزارت ویاند عنایت‌الله الکوزي پر خپله ایکس پاڼه لیکلي چې دا لړۍ شپه او ورځ دوام لري او د ټولو مخابراتي شرکتونو استازولي په دغه کمپ کې فعاله شوې، څو د بېرته راستنېدونکو کډوالو لپاره مخابراتي خدمتونه پر وخت او اغېزمن ډول برابر کړي.

د یاد وزارت د معلوماتو له مخې، په منځنۍ کچه هره ورځ تر ۶۵۰۰ پورې په وړیا توګه سیمکارټونه وېشل کېږي، چې د وړیا انټرنټ او د تماس دقیقو اسانتیا هم لري.

په ورته مهال، د هرات د مخابراتو او معلوماتي ټېکنالوژۍ ریاست له خپلو نظارتي ټیمونو سره یو ځای، د وېش بهیر له نږدې څاري او د هر ډول ستونزو پر مهال سملاسي اقدام کوي.

د فراه ولايتي روغتون کې له ۵ زرو زيات وړيا جراحي عمليات شوي

د عامې روغتیا وزارت خبر ورکړی، چې سږ کال د یاد وزارت اړوند فراه ولایتي روغتون کې ۵ زره ۱۰۶ وړیا جراحي عملیاتونه شوي دي.

د روغتیا وزارت په ایکس‌پاڼه لیکل شوي، چې په دې کې ۲ زره ۳۳۷ لوی او ۲ زره ۷٦۹ کوچني جراحي عملیات شامل دي.

د خبرپاڼې له مخې؛ دا جراحي عملیات د افغان متخصصو ډاکټرانو له لوري وړیا او بریالي ترسره شوي دي.

په دې سربېره د فراه ولایتي روغتون کې ۱۷۷ زره ۹۰۷ ناروغانو ته په وړیا توګه سراپا او ۳۴ زره ۲۳۷ ناروغانو ته داخل بستر خدمات هم وړاندې شوي دي.

روغتیا وزارت څو ورځې مخکې په بغلان ولایتي روغتون کې له تېر یو کال راهیسې د ۵ زره ۵۳۸ وړیا جراحي عملیاتو د ترسره‌کېدو خبر ورکړی و.

نړۍ ځار

حماس: د نتنياهو په څرګندونو د رواني ماتې څرک ليدل کېږي

د فلسطین حماس جهادي غورځنګ د صهیونیست اسرائیل د لومړي وزیر بنیامین نتنیاهو وروستۍ څرګندونې، چې د غزې د تسلیمېدو او د یرغمل شویو کسانو د غیر مشروط خوشي کولو په اړه وې رد کړې دي.

د حماس جهادي غورځنګ د سیاسي دفتر غړي عزت الرشق ویلي، چې د نتنیاهو خبرې پر واقعیتونو ولاړې څرګندونې نه دي، بلکې د ماتې یو رواني انعکاس دی. نوموړي ټینګار کړی، چې د یرغمل شویو کسانو خوشي کول به یوازې د حماس د شرایطو له مخې ترسره کېږي او د غزې د تسلیمېدو هر ډول تصور یې رد کړی دی. په ورته مهال، نتنیاهو بیا ویلي، چې جګړه به تر هغه روانه وي، چې د حماس جهادي غورځنګ له منځه نه وي تللی او ټول یرغمل شوي کسان خوشي شوي نه وي.

تکزاس کې د سېلابونو له امله د مړو شمېر له ۱۰۰ تنو واوښت

د امریکا د تکزاس ایالت په مرکزي برخو کې د ناڅاپي سېلابونو له امله د مړو شمېر لږ تر لږه ۱۰۹ تنو ته رسېدلی، چې زیات شمېر په کې ماشومان دي. د رویټرز د راپور له مخې، دا سېلابونه د تکزاس «هیل کنټري» سیمه سخته زیانمنه کړې او د ژغورنې ډلې لا هم په ویجاړو شویو سیمو کې د ورکو کسانو د موندلو هڅې کوي. د تکزاس والي ګریګ ابټ د ورکړل شویو شمېرو له مخې ویلي چې له پېښې څلور ورځې وروسته هم د ۱۸۰ کسانو درک نه دی معلوم او دوی لادرکه شمېرل کېږي. یاده پېښه د وروستیو لسیزو په اوږدو کې په امریکا کې له تر ټولو وژونکو سېلابونو څخه ګڼل شوې ده.

دیدار وزیران امور خارجه ایران و عربستان سعودی

وزارت امور خارجه ایران می‌گوید، داکتر سید عباس عراقچی، وزیر امور خارجه این کشور با فیصل بن فرحان، همتای عربستانی‌اش دیدار و گفت‌وگو کرده است. اسماعیل بقایی، سخنگوی وزارت امور خارجه ایران با نشر بیانیه‌ای در ایکس از این دیدار خبر داده است. به گفته آقای بقایی، این دیدار در شهر مکه مکرمه انجام شده و در آن علاوه بر روابط دوجانبه میان ریاض و تهران، آخرین تحولات منطقه نیز به بررسی گرفته شده است. بربنیاد معلومات آقای بقایی، دیدار عراقچی و بن فرحان پس از برگشت وزیر امور خارجه ایران از نشست گروه بریکس انجام شده است. جزئیات گفت‌وگوی تازه مقامات دیپلوماتیک ایران و عربستان سعودی فاش نشده است. این دیدار در حالی انجام شده که اخیراً وزیر دفاع عربستان سعودی در سفر به امریکا و در دیدار با دونالد ترامپ، رییس جمهور این کشور روی موضوعات مختلف از جمله ایران گفت‌وگو کرده است.